# د شمېرنې لاربنود

## د ولسي جرګې او
## ولايتي شوراګانو ټاکنې

۱۳۸٤

افغانستان

## د ښه راغلاست لیک

د ټاکنو درنو همکارانو

موږ تاسو ته د افغانستان د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولايتي شورا ټاکنو کې د کار کولو لپاره ښه راغلاست وايو. موږ په ځانګړي ډول خوښ يو چې تاسو به د ۱۳۸٤ کال د وږي د ۲۷مې نېټې د ټاکنو وروسته د رايو شمېرنه تنظيموئ.

دشمېرنې د کارکوونکو په توګه ستاسو دنده ډېره مهمه ده، ځکه چې تاسو به له نړيوالو معيارونو سره د ټاکنو د برابروالي د باوري کولو مسؤوليت په غاړه ولرئ چې په پايله کې به يې يوه د اعتبار وړ، منل شوې، روښه او جامع پروسه را منځته شي. ستاسو هڅې به د ولسواکو ادارو په جوړولو کې چې افغانانو ته يې ګټه رسېږي، ستر رول ولوبوي. دا به ستاسو دنده وي ترڅو باوري کړئ چې د ټول هغو وړ رايه ورکوونکي چې رايې يې ورکړي دي، رايې وشمېرل شي. او د ټاکنو پايله په سمه توګه د افغان وګړو هيلې منعکسې کړي. د ډېرو افغانانو لپاره به تاسو د دې ټاکنو ښکارندوی ياست او موږ د دې عملياتو د لوړو معيارونو د ساتلو لپاره په تاسو حساب کوو.

د دې لارښود موخه دا ده چې ستاسو سره د رايې شمېرلو په ټولو ضروري اړخونو باندې په پوهېدو کې مرسته وکړي او تاسو د دې وړ کړي چې ستونزې حل کړئ او هر هغې پوښتنې ته ځواب ورکړئ چې د دې بهير په اوږدو کې راپورته کېږي.

موږ د زړه له کومې په دې ټاکنو کې ستاسو شتون ته ښه راغلاست وايو او د ټاکنو د ټول بهير ځواکمن پرمختګ کې د مرستې کولو او د لوړو نړيوالو معيارونو سره د خپل کار د برابرۍ د باوري کولو لپاره در څخه مننه کوو.

**پيټر اربن**
**د ټاکنو اجرآئيو ي آمر**
**د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشاء**

## د محتویاتو جدول

### ددې لارښود موخه

دغه لارښود د شمېرنې کړنلارې په ګوته کوي چې د شمېرنې په موده کې پکار وړل کیږي او د ۱۳۸٤کال د وږي د ۲۷مې نېټې له ټاکنو وروسته پيلیږي. په پام کې ده چې دا لارښود به د شمېرنې د مرکز د مدیرانو او د شمېرنې د ټیم د څارونکو له خوا وکارول شي چې د شمېرنې کارونه پرمخ بیایي. تمه ده چې د شمېرنې ټول کارکوونکي دغه لارښود په بشپړه توګه مطالعه کړي تر څو خپلې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړی شي.


١. د ټاکنو د کارکوونکو لپاره کړنلود ٤

٢. د شمېرنې د بهیر لنډیز ٥

٣. د شمېرنې د مرکز اداره ٨

٤. بهرنی اړیکې ١٦

٥. د شمېرنې څلور پړاوونه ١٩

لومړی پړاو: د توکو ترلاسه کول ١٩

دویم پړاو: د توکو لومړی زیرمه ٢٣

دریم پړاو: د تطبیق، ګډولو او شمیرلو لړی ٢٣

. څلورم پړاو: د پایلو لیږل او ورستی زیرمه ٣١

٦. د شیې له مخې زیرمه ٣١

٧. د حساب تصفیه او بیا شمېرنې ٣٢

٨. د رای پاڼو د اعتبار په اړه د پرېکړې اصول ٣٣

لومړی مل – د شمېرنې په مرکز کې استعمالیدونکې فورمې ٤٠

د ټاکنو د کارکوونکو لپاره کړندود

**دافغانستان اسلامي جمهوريت**
**دانتخاباتو دتنظيم ګډ دفتر**

**جمهوری اسلامی افغانستان**
**دفتر مشترک تنظیم انتخابات**

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Joint Electoral Management Body**
**JEMB**

دا کړندود د ټاکنو د قانون په هکله د ولسمشر له فرمان څخه سرچينه اخلي. په دې کړندو د کې د تشريح شوو اخلاقي او حقوقي معيارونو موخه د کانديدانو د نومونې، نوم ليکنې، سياسي کمپاين، رايې ورکولواو رايو شمېرنې په ګډون، له پيله تر پايه د ټاکنو په ټول بهير کې د ټاکنو د کارکوونکو د کړنو لارښوونه ده. د ټاکنو ټول کارکوونکي بايد دې معيارونو ته غاړه کېږدي او په ښه نيت او سالم قضاوت سره يې عملي کړي. هېله ده خبر اوسئ چې د انتخاباتي شکايتونو کمېسيون کولای شي د ټاکنو کارکوونکي د کړندو د څخه د سرغړونې له امله مجازات کړي.

د ټاکنو کارکوونکي:

۱. د اساسي قانون، د ټاکنو ټول قوانين، او د افغانستان نور ټول قوانين او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر او د دغه دفتر د دارالانشاء له خوا د صادرشوو دستورالعملونو، لارښوونو او کړنلارو رعايت کوي او په بې طرفۍ، بې پرې او پرته له سياسي تړاو څخه يې عملي کوي.
۲. د خپل توان تر اخري اندازې، د ټاکنو د بهير په ټولو پړاوونو کې د ټولو کسانو د بيان او د نظر وړاندې کولو، د ټولنو جوړولو، غونډو جوړولو او تګ راتګ د ازادۍ بنسټيز حقونه باوري کوي.
۳. له رايه ورکوونکو، کانديدانو، د خبري رسنيو يا مطبوعاتو د غړيو او نورو ټولو کسانو سره د درناوي، بې پرې توب او سياسي ناپېيلتوب په شکل چلند کوي.
٤. په کاليو يا عمل، کړو وړو يا خبرو کې د کوم سياسي ګوند يا کانديد ملاتړ نه څرګندوي.
٥. له کتونکو، استازيو، رايه ورکوونکو، کانديدانو او د مطبوعاتو او خبري رسنيو د غړو سره د قانون په چوکاټ کې د همکاري له لارې په خپلو ټولو پرېکړو او دندو کې له ريښتينولۍ او روڼتيا څخه کار اخلي.
٦. د خپل مقام څخه شخصي ګټه نه اخلي او نه يې د اخيستلو هڅه کوي، او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر او د ګډ دفتر د دارالانشاء پرته له هيچا څخه سوغاتونه، پيسې او نور امتيازات نه اخلي؛
٧. خپلې ټولې هغه ګټې د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر ته څرګند وي چې په دغه دفتر کې د دوی له دندو سره تړلې او په تضاد کې وي او بايد له داسې لارې څخه د دغو تضادونو د هوارې لپاره ټول ګامونه پورته کړي چې د دوی له دندو سره سمون ولري.
٨. د رايې پاڼې د پټوالي (سريتوب) درناوی کوي؛
٩. د هر کس محرميت او محرم معلومات خوندي ساتي؛
١٠. له ټولو کسانو سره د ټولنيزې منشاء او شخصي مقام په پام کې نيولو پرته او جنس، مذهب، عقيدې، عمر او معيوبيت ته په پام سره باعزته او احترامانه چلند کوي؛
١١. د دندو له پيل کولو څخه وړاندې په ټولو روزنيزو غونډو کې برخه اخلي او له ټولو هغو اړوندو کړنلارو سره ځان اشنا کوي چې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر له خوا ورکول کېږي.

ما پورتنی کړندو ولوست، پرې پوهېږم او غاړه ورته ږدم.

په ........................................................ د ١٣٨٤ کال د.................................................................................نېټه

د ........................................................ له خوا لاسليک شو.................................................................................

د ټاکنو د کارکوونکي نوم          د ټاکنو د کارکوونکي لاسليک

## ۲. د شمېرنې د بهير لنډيز

په افغانستان کې ټولو افغانانو ته به موقع ورکړل شي چې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې رايه ورکړي. د ۱۳۸٤کال د وږي په ۲۷مه چې د ټاکنو ورځ ده، د رايې ورکولو مرکزونه او ځايونه به د سهار له ۷:۰۰ بجو څخه پرانېستل او د مازديګر پر ٤:۰۰ بجو بند شي. هغو رايه ورکوونکو ته چې د رايې ورکولو د ځايونو او مرکزونو په ليکو کې ولاړ وي اجازه به ورکړل شي چې رايه ورکړي، خو که چېرې د ٤:۰۰ بجو څخه وروسته څوک راشي د رايه ورکوونکو په ليکه کې د ودريدو اجازه نلري. رايه ورکول به تر هغې روان وي تر څو په ليکه کې ټول ولاړ رايه ورکوونکي رايه ورکړي. وروسته له هغې چې وروستی رايه ورکوونکی رايه ورکړي، د رايې اچونې ټاکل شوی کارکوونکی به د رای پاڼو د صندوق د سر سوری مهر کړي او اړين ګامونه به پورته کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د رای پاڼو د صندوق مالومات ثبتيږي او د رای پاڼو صندوقونه او توکي په سمه توګه د شمېرنې مرکز ته لېږدول کيږي.

د شمېرنې مرکزونه به په ولايتي مرکزونو کې موقعيت ولري. د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر د امنيتي او لوجيستيکي دلايلو له مخې له هر ولايت څخه د رای پاڼو د شمېرنې مرکز د بې ځايه کولو پرېکړه کولی شي.

د ولسي جرګې لپاره د کوچيانو رای پاڼې به په ولايتي مرکزونو کې وشمېرل شي، په استثنا ددې چې په هغه ولايت کې د ولسي جرګې لپاره د کوچيانو د ۵۰۰ څخه کمې رای پاڼې اچول شوي وي. په دې صورت کې، د ولسي جرګې لپاره د کوچيانو رای پاڼې به په بل ولايت کې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر لخوا د شمېرنې په تصويب شوي مرکز کې وشمېرل شي.

### د شمېرنې د کارونو لنډيز

د وږي له ۲۷مې څخه وروسته، د شمېرنې مرکزونه به د رايې ورکولو د ځای توکي ترلاسه کړي.

د شمېرنې کارونه به د شمېرنې د مرکز مدير لخوا وڅارل شي.

- د راپور مامور به د رايې ورکولو د هر مرکز د توکو د سپارلو مسؤول وي.
- د ترلاسه کولو کارکوونکي به د رايې ورکولو د ځای توکي د پذيرايي په ځای کې ترلاسه کړي، د رايې ورکولو د راپور (P01) فورمه او د رای پاڼو د مهر شوو صندوقونو اړوند شمير وګوري.
- د ساتنې کارکوونکي به توکي د شمېرنې د ځای په شمېرېز ترتيب کې زيرمه کړي.
- د شمېرنې څانګې ( يونيټونه) چې د شمېرنې د څانګې د څارونکي تر څارنې لاندې د اتو شمېرونکو په ډلو کې کار کوي، د امکان تر حده له زياتو ولسواليو څخه (لږ ترلږه دوه ولسوالۍ) د رايې ورکولو د پنځو ځايونو دستي به تطبيق، ګډې او وشمېري تر څو د رای پاڼو د شمېرنې لپاره د رايو د سرچينې محرميت باوري شي. د شمېرنې د څانګو شمېر د رايې ورکولو د ځايونو په مجموعي شمېر پورې تړلي دی چې د شمېرنې مرکز يې بايد له پړاوونو تير کړي.

- شمیرونکي به د رایې ورکولو د هر ځای یو په بل پسې د دواړو ټاکنو رای پاڼې تر هغه پوري تطبیق کړي چې په دسته کې د رایې ورکولو ټول ځایونه له پړاوونو تیر شي.
- په دسته کې د رایې ورکولو د ځایونو څخه د ولسي جرګې رای پاڼې به بیا سره ګډې او وشمېرل شي.
- په دسته کې د رایې ورکولو د ځایونو څخه د ولایتي شورا رای پاڼې به بیا سره ګډې او وشمېرل شي.
- د هرې ټاکنې (ولسي جرګه او ولایتي شورا) لپاره د دستو پایلې به د پایلې د ( L02) په فورمو کې ثبت شي. د پایلو ( L02) فورمو کاپي به د شمېرنې په مرکز کې د عامو خلکو لپاره ولګول شي.

د کوچیانو د رایې ورکولو له ځایونو څخه رای پاڼې به په جلا توګه تطبیق، ګډې او وشمېرل شي.

← د پایلې (L02) فورمې او د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمې به سکن (scan) کړی شي او د کمپیوټر کاپي به یې په کابل کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء د مالوماتو مرکز ته ولېږل شي، چېرې چې پایلې به په کمپیوټر کې ثبت، د سموالي (صحت) لپاره په بشپړه توګه وکتل او راټولې کړی شي.

د شمېرنې په مهال د انتخاباتي ولایتي کمېسیون دنده

دانتخاباتي شکایتونو کمېسیون یوه خپلواکه اداره ده چې د ټاکنو د قانون د ٥٢مې مادې له مخې رامنځته شوې څو د ټاکنیزې پروسې په باب پر ټولو شکایتونو غور وکړي. په ډېرو مواردو کې، انتخاباتي شکایتونو کمېسیون انتخاباتي ولایتي کمېسیونونو ته، چې غړي ټاکنیز کارکوونکي دي، واک ورکړی څو د شکایتونو په اړه لومړنی پلټنې او غور وکړي. انتخاباتي ولایتي کمېشنران به د شمېرنې په هر مرکز کې حاضر وي او د رایې ورکولو او د شمېرنې توکو ته به مناسب لاس رسی ولري.

د ترلاسه کولو د بهیر په ترڅ کې انتخاباتي ولایتي کمېسیون به ټول هغه شکایتونه چې د رایې ورکولو په هر ځای کې درج شوي وي ترلاسه کړي. که چېرې انتخاباتي ولایتي کمېسیون داسې شکایت ترلاسه کړي چې د ترلاسه کولو په ترڅ کې د ټاکنو د توکو د ناسم شمېر او د شمېرنې د کارکوونکو له خوا د همدې توکو د نامناسبې کارونې په اړه وي، نوموړی کمېسیون د لازیاتې پلټنې لپاره امر کولی شي چې د رایې ورکولو د هغه ځای د رای پاڼو صندوقونه جلا کښېږدي. انتخاباتي شکایتونو کمېسیون باید ددې پرېکړې پخلی وکړي چې د رایې ورکولو د ځانګړي ځای د رای پاڼو صندوقونه دي جلا کښېښودل شي، خو دا صندوقونه باید له شپږو ساعتونو زیات کښې نه ښودل شي.

د شمېرنې په مرکز کې، انتخاباتي ولایتي کمېسیون به د رایې ورکولو د هر ځای پر شکایتونو او ورسره د کتونکو، استازو، او د هر بل چا پر شکایتونو چې د شمېرنې د بهیر په ترڅ کې یې کړي وي، غور وکړي

دشمېرنې په اړه شکایتونه انتخاباتي ولایتي کمېسیون ته وړاندې کېدای شي یا د شمېرنې په مرکز کې د شکایتونو په ټاکل شوي صندوق کې اچول کیږي.

د انتخاباتي ولایتي کمېسیون ټولې پرېکړې به په کابل کې انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته د بیا کتلو لپاره واستول شي.

انتخاباتي ولایتي کمېسیون واک لري چې د اصلاحي (علاجي) ګام امر صادر کړي څو شکایت حل شي. سر بیره پردې، دا کمېسیون د رای پاڼو د شمېرنې او بیا شمېرنې امر هم ورکولی شي، خو د انتخاباتي ولایتي کمېسیون د شمېرنې بیا شمېرنې یا د درېدو (وقفې) امر به یوازې هغه وخت اغیزه ولري کله چې دا امر په کابل کې د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون له خوا تصدیق شي.

## د شمېرنې مرکز


د شمېرني مرکز داسي ځای دی چېرې چي د شمېرني فعالیتونه ترسره کیږي. دا ځای کېدای شي یو تعمیر، خیمه یا د دې دواړو ترکیب وي.

د شمېرني هر مرکز به په څو برخو ووېشل شي (لومړی شکل وګورئ)؛

- د ترلاسه کولو برخه: د رایې ورکولو حساس توکي به ترلاسه او وکتل شي او څرنګه چې مناسبه وي د شمېرنې د مرکز نورو برخو ته به وویشل شي.
- د زیرمتون برخې: د رایې ورکولو توکي به په سمه توګه ذخیره کړی شي څو چټک لاس رسي ته لار هواره شي. یوه برخه به د توکو د صندوقونو لپاره بیله کړای شي چي دا صندوقونه به د رایې ورکولو د ځای د کوډ له مخې په شمېریز ترتیب سره وساتل شي. د میزونو او څوکیو لپاره ځای به پرېښودل شي تر څو د اړوندو توکو د صندوقونو د حساب تصفیه وشي.
- د شمېرني برخه: شمېرنه به په داسي کوټو کي ترسره شي چي د میزونو لپاره بشپړ ځای پکي موجود وي. دا کوټې د شمېرني د څانګو په نوم یادیږي. د شمېرني په هره څانګه کي یو څارونکی او اته شمېرونکي کارکوي ( دویم شکل وګورئ).
- د سکن کولو برخه: د پایلي (L02) فورمي او د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمي به د شمېرني په مرکز کي سکن کړی شي او کمپیوټري کاپي به یې د شمېرني د مرکز څخه په کابل کي د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر د دارالانشاء د مالوماتو مرکز ته نیغ په نیغه یا د همدې دفتر د ولایتي دفتر څخه ولېږل شي.
- د بهرنیو اړیکو برخه: دا برخه ددې لپاره بیله شوې تر څو پر اندېښنو او شکایتونو غور وکړي او کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو ته مالومات ورکړي. (یادګیرنه: په دې برخه کې د انتخاباتي ولایتي کمېشنرانو لپاره ځای باید ځانګړی شي).


درای شمېرني د مرکز نقشه / نقشه مرکز شمارش آرا

**Count Centre Layout**




لومړی شکل

دويم شكل: د شمېرنې د ځانګې نخشه




### ***د شمېرنې د مرکز کوډ***

د شمېرنې هر مرکز به دوه شمېريز کوډ ولري چې هغه ولايت به په ګوته کوي چېرې چې د شمېرنې مرکز موقعيت ولري. د بېلګې په ډول، د کندهار ولايت د شمېرنې د مرکز کوډ به ۲۸ وي. د شمېرنې د مرکز کوډ به د پايلې په ټولو(L02) فورمو کې استعمال شي.

### ***د کار وختونه***

د شمېرنې مرکزونه به د ۱۳۸٤کال د وږي له ۲۷مې رايې ورکولو څخه وروسته پرانېستل شي او تر هغه وخته به پرانېستي پاتې شي چې ټولې رای پاڼې وشمېرل او د ټاکنو پايلې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر له خوا تصديق شي. د عملياتو وختونه له ٦:۰۰ بجو څخه تر ۸:۰۰ بجو، په اونۍ کې اوو ورځې ټاکل شوي خو کېدای شي چې دا وختونه بدلون ومومي تر څو عملياتي ضرب العجلونو سر ته ورسېږي. د ترلاسه کولو او زيرمې برخې به د انفرادي لېږدونې د پلانونو له مخې پرانېستې پاتې شي. سربېره پر دې، د شمېرنې مرکزونه به د شپې له مخې هم پرانېستې پاتې شي تر څو د کتونکو او استازو محدود شمېر دا موقع ولري چې د شمېرنې په ځای کې پاتې شي او د بهير څارنه وکړي.

### ***د شمېرنې د مرکز کارکوونکي***

د شمېرنې فعاليتونه به د شمېرنې د مرکز د مدير تر څارنې لاندې د کارکوونکو له خوا تر سره کيږي. هره برخه به د يو څارونکي تر مسؤوليت لاندې وي.

د شمېرنې په مرکز کې د هرې برخې لپاره د کارکوونکو شمېر د رايې ورکولو د ځايونو په شمير پورې تړلی چې له پراوونو څخه د تيرولو مسؤوليت يې د شمېرنې د مرکز په غاړه دی.

- ✓ د ترلاسه کولو کارکوونکي: د ترلاسه کولو کارکوونکي په جوړه توګه (دوه کسان) د کار کولو له مخې به د هغو توکو وضعیت ګوري او ثبتوي چې د راپور د مامور لخوا راوړل کیږي.
- ✓ د زیرمتون کارکوونکي: د ترلاسه کولو وروسته ډلې به په سمه توګه د رایې ورکولو د توکو د ساتلو او د برخو په منځ کې د رایې ورکولو د توکو د وړلو مسؤولیت په غاړه ولري.
- ✓ د شمېرنې د څانګې کارکوونکي: د شمېرنې هره ډله د شمیرنې د څانګې له یو څارونکي ( چې د شمېرنې د فعالیتونو مسؤولیت په نوموړې څانګې کې او د پایلې د (L02) فورمو او د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمو د بشپړولو مسؤولیت په غاړه لري) او اتو شمېرونکو څخه جوړه ده.
- ✓ د سکن کولو کارکوونکي: د سکن کولو ډلې د پایلې (L02) فورمو او د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمو د سکن کولو او په کابل کې د مالوماتو مرکز ته د پایلو د لیږلو مسؤولیت په غاړه لري.
- ✓ د بهرنیو اړیکو کارکوونکي: د بهرنیو اړیکو ډلې به د هغو کتونکو، استازو، خبري رسنیو، او ځانګړو میلمنو سره اړیکې پیدا کوي چې د شمېرنې د مرکز د لیدو اجازه لري. د بهرنیو اړیکو کارکوونکي همداشان اندېښنو ته هم ځواب وایي او شکایت کوونکي د انتخاباتي ولایتي کمېسیون غړي یا د انتخاباتي ولایتي کمېسیون د شکایتونو صندوق ته رهنمایي کوي.
- ✓ د حساب د تصفیې کارکوونکي: دغه کارکوونکي د حساسو توکو د حساب د تصفیې مسؤولیت په غاړه لري چېرې چې توپیر (تفاوت) منځته راځي ( د ترلاسه کولو یا تطبیق په پړاونو کې).

## *د اوامرو لړۍ*

- ← هره برخه به د ټاکل شوي څارونکي لخوا څارل کیږي.
- ← د برخې څارونکی به د شمېرنې د مرکز مدیر ته راپور ورکوي
- ← د شمېرنې د مرکز مدیر به د ټاکنو ولایتي مامور ته راپور ورکوي

## *د شمېرنې د مرکز ټول کارکوونکي باید:*

- ✓ د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر لخوا د ټاکنو د کارکوونکو لپاره دکړندود له مخې تل په بې پرې توګه چال چلند وکړي. بې پرې چال چلند د شمېرنې د منصفانه او آزاد بهیر لپاره ډیر اړین دی.
- ✓ باوري کړي چې کړنلارې تعقیبیږي او ترلاسه کیدونکي مالومات دقیق او سم دي.
- ✓ خپل ټاکل شوی څارونکی د ټولو هغو بې نظمیو او ستونزو په اړه خبر کړي چې د شمېرنې پر فعالیتونو اغیزه ولري.
- ✓ رسمي نښان (پیژندپانه) ولري او په ټاکلي رنګ کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء واسکټ ډوله لباس د کار په وخت کې واغوندي.
- ✓ د حساسو توکو امنیت باوري کړي او د مالوماتو د ساتنې او زیرمتون له کړنلارو څخه په ټینګه پیروي وکړي.
- ✓ په مؤدبانه ډول د کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو سره چال چلند وکړي.
- ✓ چمتو وي چې د بل ټیم دندې په غاړه واخلي که چېرې د شمېرنې د مرکز د مدیر لخوا وروسپارل شي.

### د کارکوونکو لپاره حد اقل اړتیاوې

د شمېرنې د مرکز ټاکل شوي مدیر په ګډون لږترلږه د شمېرنې پنځه کارکوونکي باید په مرکز کې موجود وي تر څو د شمېرنې فعالیتونه پرمخ بوزي. که چېرې د شمېرنې پنځه کارکوونکي حاضر نه وي، د ټاکنو ولایتي مامور به په لومړی موقع کې خبر کړای شي او ډله به د نورو کارکوونکو د رارسیدو انتظار وباسي.

### د شمېرنې د مرکز د مدیر دندې

د شمېرنې د مرکز مدیر ددې مسؤولیت په غاړه لري تر څو باوري کړي چې د شمېرنې مرکز د استفادې وړ دی او فعالیتونه په اغیزمنه توګه پرمخ روان دي. د شمېرنې د مرکز د مدیر په نشتوالي کې، د شمېرنې د مرکز یو کارکوونکی به د هغه/هغې په ځای وټاکل شي. د شمېرنې د مرکز مدیر:

١. په مناسب وخت کې د شمېرنې د مرکز د پرانېستلو او بندولو مسؤولیت په غاړه اخلي او باوري کوي چې ټولې تیاری او د بندولو فعالیتونه په سمه توګه بشپړېږي.
٢. د شمېرنې په مرکز کې د کارکوونکو کار څاري
٣. ځان ډاډه کوي چې د شمېرنې لپاره ټولې تیارۍ شوي او د مرکز د ننه د نظم ساتلو ټول مسؤولیت په غاړه اخلي.
٤. ځان ډاډه کوي چې د شمېرنې د مرکز کارکوونکي خپل رسمي نښان (پیژندپانه) لري او په ټاکلي رنګ کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء واسکټ ډوله لباس یې د اړتیا له مخې اغوستی دی.
٥. ځان ډاډه کوي چې د شمېرنې د فعالیتونو لپاره د شمیرنې مرکز اړوند توکي لري او د ټاکنو ولایتي مامور یا د لوجیستیک ولایتي ناظم خبروي که چېرې نورو توکو ته اړتیا ولیدل شوه.
٦. ټول توکي ساتي او د حساسو توکو له پراوونو څخه د تیرولو او ساتلو کړنلارو پیروي کوي.
٧. د شمېرنې ټولو کړنلارو او د کړنلارو په اړه تازه مالوماتو ته د ډلې (ټیم) پیروي باوري کوي.
٨. ګوري چې ټولې فورمې په بشپړ ډول او په سمه توګه د کړنلارو له مخې بشپړې شوي دي.
٩. د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء د مالوماتو مرکز ته د پایلو د په وخت رسولو مسؤولیت په غاړه لري.
١٠. د رایي ورکولو د توکو د حساب تصفیه څاري او باوري کوي چې دا څارنه د ټاکلو شویو کړنلارو له مخې ترسره کیږي.

### د شمېرنې توکي

لاندې د شمېرنې د فعالیتونو لپاره اړین توکي دي:

- د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو لپاره رای پاڼې
  - د ولسي جرګې رای پاڼې آسماني رنګه دي (د ولسي جرګې د کوچیانو رای پاڼې آسماني رنګ اوسرى ارغواني لیکې لري).
  - د ولایتي شوراګانو رای پاڼې طلایي/ژیړ رنګ لري.
- دشمېرنې او رایې ورکولو فورمې (لومړی مل وګورئ)

د شمېرنې د مرکز مدیر به همداشان باوري کوي چې مرکز لاندې توکي لري:

- د شمېرنې د مرکز ژورنال
- د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو کتاب
- د قرطاسیې کافي توکي چې د شمېرنې د فعالیتونو د ترسرکیدلو لپاره اړین دي

## د شمېرنې لپاره کارول کېدونکې فورمې – لومړۍ مل د ټولو فورمو د مثالونو لپاره وګورئ

*د رايي ورکولو فورمې*

| فورمه | کله کارول شوي | څرګندوني | ساتنه |
|---|---|---|---|
| د رايي ورکولو د راپور **(P01)** فورمه | د تطبيق په ترڅ کې | د رايي ورکولو د هر ځای لپاره يوه. د شمېرنې د ځانګې د څارونکي لخوا د رای پاڼو په صندوقونو کې د ترلاسه شوو رای پاڼو د مجموعي شمېر لومړۍ شمېرنه په کې ليکل کېږي. | د دوسيو په آلمارۍ کې په دسته کې په شمېريز ترتيب سره د پايلي **(L02)** فورمو او د رايي ورکولو د راپور (P01) فورمو سره مل ده چې د رايي ورکولو د ځايونو دسته جوړوي. |
| د رايي ورکولو کاري **(P02)** پاڼه | د حساب د تصفيې په ترڅ کې | د رايي ورکولو د هر ځای لپاره يوه. د رايي ورکولو په ځای کې د رای پاڼو د بشپړ شوي حساب د کتلو لپاره. | د رايي ورکولو د ځای د توکو صندوق |
| د رايه ورکوونکو **(P03)** لست | د حساب د تصفيې په ترڅ کې | د رايي ورکولو د هر ځای لپاره يوه. د رايي ورکولو په ځای کې د رای پاڼو د بشپړ شوي حساب د کتلو لپاره. | د رايي ورکولو د ځای د توکو صندوق |

*د شمېرنې فورمې*

| فورمه | کله کارول شوي | څرګندوني | ساتنه |
|---|---|---|---|
| د ترلاسه کولو او کتنې **(L01)** فورمه | د رايي ورکولو د توکو د ترلاسه کولو او کتنې په ترڅ کې | د رايي ورکولو د هر مرکز لپاره يوه. د ترلاسه کولو او کتنې دلې لخوا د بشپړوالي لپاره کله چې د رايي ور کولو توکي د شمېرنې مرکز راوړل کېږي. | *د رايي ورکولو د مرکز په شمېريز ترتيب سره د ساتنې په برخه کې د دوسيو په آلمارۍ کې په يوه دوسيه کې* |
| د پايلي **(L02)** فورمه | د شمېرنې په ترڅ کې | د هرې ټاکنې د هرې دستې لپاره يوه. د شمېرنې د ځانګې د څارونکي له خوا د بشپړوالي لپاره وروسته له دې چې رای پاڼې شمېرل شوې وي. | د دوسيو په آلمارۍ کې په شمېريز ترتيب سره د پايلي **(L02)** فورمو او د رايي ورکولو د راپور (P01) فورمو سره يو ځای مل کېږي چې د رايي ورکولو د ځايونو دسته جوړوي. |
| د مهرونو **(L03)** ريکارډ | کله چې يو صندوق شمېرل شوی رای پاڼې ولري او بيا مهر کېږي. | د هرې ټاکنې د هرې دستې لپاره يوه. د شمېرنې د ځانګې د څارونکي لخوا د بشپړوالي لپاره د شمېرل شويو رای پاڼو د صندوقونو د مهرولو وروسته | د دوسيو په آلمارۍ کې په دسته کې په شمېريز ترتيب سره د پايلي **(L02)** فورمو او د رايي ورکولو د راپور (P01) فورمو سره مل کېږي چې د رايي ورکولو د ځايونو دسته جوړوي. |
| د راپور **(L04)** فورمه | د شمېرنې د بهير په مهال په هر ځای کې | د رايي ورکولو د هر ځای يا هرې دستې لپاره يوه. د بشپړوالي لپاره کله چې ټوپير رامنځته شي او تعقيبي ګامونو ته اړتيا پيدا شي او يا د شمېرنې د ځانګو د څارونکو د تسليمۍ لپاره. | *د دوسيو په آلمارۍ کې: د رايي ورکولو په ځای کې په شمېريز ترتيب د رايي ورکولو د راپور **(P01)** فورمې سره مل کېږي يا د دستې په شمېريز ترتيب کې د دستو د فورمو سره مل کېږي.* |

### د شمېرنـې د مرکز ژورنال

د شمېرنې د مرکزمدیر د شمیرنې د مرکز ژورنال د ساتلو مسؤولیت په غاړه لري. د مرکز ژورنال د لاندې مالوماتو د ثبتولو لپاره کارول کېږي:

- د مرکز پرانېستلو او بندولو وختونه
- ټولې بېړنۍ پېښې
- د پام وړ هره هغه پېښه چې د شمېرنې د مرکز پر فعالیتونو اغیزه ولري

### د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو کتاب

د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو کتاب به د بهرنیو اړیکو د ډلې لخوا ساتل کېږي چې د کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو ګډون او مطر ح شوې اندېښنې ثبت کړي .

د نوبتونو (شیفټونو) په پای کې، د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو کتاب باید د شپې نوکریوال ته وسپارل شي.

د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو د کتاب بیلګه

د شمېرنې د مرکز کوډ:

د ولایت نوم:

| خپل او د کورنۍ نوم یا تخلص | د کاندید شمېره/دکتونکو د ډلې نوم/د خبري رسنیو نوم | نېټه/د ننوتو وخت او لاسلیک | نېټه/ د وتلو وخت او لاسلیک | څرګندونې |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

### حساس توکي

حساس توکي په لاندې ډول دي او باید تل خوندي وساتل شي:

- د رای پاڼو صندوقونه چې ناشمېرل شوې رای پاڼې په کې وي.
- د توکو صندوقونه چې نااستعمال شوې، ضایع شوې او بیکاره رای پاڼې، د رایې ورکولو د فورمو کتابګۍ (د رایې ورکولو کاري (P02) پاڼه، د رایه ورکوونکو (P03) لست) او د رایې ورکولو د ځای ژورنال په کې وي.
- د رای پاڼو صندوقونه چې شمېرل شوې رای پاڼې په کې وي.
- ټولې فورمې چې د شمېرلو او رایې ورکولو لپاره کارول کېږي.
- د شکایتونو صندوق
- د رایې ورکولو د ځایونو لست د دوسیو په خوندي آلمارۍ کې باید وساتل شی
- د بهرنیو اړیکو د ریکارډ ساتلو کتاب
- د شمېرنې د مرکز ژورنال

### *د کمپاين توکي*

د کمپاين کولو ټول توکي بايد ايسته کړای شي. د شمېرنې د مرکز په ۱۰۰ ميترۍ کې د سياسي کمپاين کولو لپاره د هيڅ ډول توکو اجازه نشته.

### *د شمېرنې د مرکز امنيت*

د شمېرنې په هر مرکز کې به مناسب امنيتي تدابير ونيول شي. د امنيتي چارواکو دنده ده چې د شمېرنې د مرکز د کارکوونکو او توکو په ګډون د شمېرنې د بهير لپاره امنيت ونيسي.

د شمېرنې د مرکز مدير د شمېرنې په مرکز کې د نظم ساتلو مسؤوليت په غاړه لري. امنيتي کارکوونکو ته به د شمېرنې د مرکز د ننه اجازه ورکړل شي که چېرې د شمېرنې د مرکز د مدير لخوا راوغوښتل شي.

امنيتي کارکوونکي به د شمېرنې د مرکز د باندې په نظم ساتلو کې مرسته کوي. که چېرې غوښتنه ترې وشي د شمېرنې د مرکز د ننه نظم ساتي او د شمېرنې د مرکز د مدير په غوښتنه د شمېرنې د مرکز څخه هر هغه کس د باندې باسي چې ګواښوونکې او تيرى کوونکې چال چلند وکړي يا د شمېرنې د مرکز د مدير د لارښوونو په منلو کې پاتې راشي. امنيتي کارکوونکي به همداشان مسؤوليت ولري چې د هغو کسانو جسماني پلټنه (تلاشي) وکړي چې مهمو ځايونو ته لاس رسى لري تر څو بشپړ خوندي چاپيريال باوري شي.

د شمېرنې د مرکز مدير به د ټاکنو ولايتي مامور ته په لومړي موقع کې خبر ورکوي که چېرې اختلال، بيړنى حالت يا نورې پيښې رامنځ ته شي. خو د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء ولايتي امنيتي مامور لومړی واک ولري چې د ترينګلو امنيتي موضوعګانو په اړه پرېکړه وکړي.

<u>امنيتي کارکوونکي د شمېرنې په پروسه کې لاسوهنه يا د اغيزې درلودولو کوښښ نه شي کولای.</u>

### د شمېرنې ځنډول (تعليق)

په هغه صورت کې چې پيښې د شمېرنې د مرکز د ننه د فعاليتونو دوام ناشوونې کوي، لکه که چېرې د شمېرنې مرکز ته د اله ګولې، چور چپاو، توپان يا سيلاب له کبله ګواښ وشي، د شمېرنې د مرکز مدير شمېرنه ځنډولی شي. د شمېرنې د مرکز مدير بايد سملاسي د ټاکنو ولايتي مامور او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء د مالوماتو مرکز خبر کړي. د شمېرنې د مرکز مدير به کوښښ وکړي چې ټول حساس توکي خوندي وساتي. د ټاکنو ولايتي مامور به د شمېرنې دمرکز مدير په هر هغه کار خبر ساتي چې ترسره کيږي.

د شمېرنې د ځنډ په صورت کې، د شمېرنې د مرکز مدير به د امکان تر حده لاندې ګامونه اخلي:

- د شمېرنې مرکز بندوي، موضوع او امنيتي حالت ته په کتو سره، له ټولو کسانو څخه غوښتنه کوي چې د شمېرنې له مرکز څخه ووزي
- د شمېرنې په ژورنال کې د شمېرنې د ځنډولو وخت او دلايل ثبتوي.

| |
|---|
| **يوازې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر د ټاکنو د ولايتي مامور او د ټاکنو د سيمه ييز ناظم په سپارښتنه د شمېرنې ناپلان شوې بندونه تصويبولی شي.** |

### وقفې او د غرمې ډوډۍ

د شمېرنې مرکز به د غرمې د ډوډۍ په مهال پرانېستی او د استفادې وړ پاتې شي. د شمېرنې د مرکز کارکوونکي به په نوبت نیم ساعت وقفه د غرمې ډوډۍ او له ۱۰ – ۱۵ دقیقو پورې وقفه د لمانځه لپاره ولري. د شمېرنې د مرکز مدیر به ددې کار لپاره یو مهال وېش ترتیب کړي تر څو باوري شي چې هر وخت یو شمیر کارکوونکي په کار لګیا دي. د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر د دکار وختونه تر وروستی نېټې پورې بدلولی شي تر څو د پروژې ضرب العجلونه تطبیق کړي.

د بهرنيو اړيکو د کارکوونکو مسؤوليتونه

د بهرنيو اړيکو د څارونکي تر مسؤوليت لاندې، د بهرنيو اړيکو کارکوونکي به د هغو کتونکو، استازو، خبري رسنيو او ځانګړو ميلمنو سره اړيکې ټينګوي چې د شمېرنې مرکز ته د ننوتو اجازه لري. د بهرنيو اړيکو د کارکوونکو شمېر به د کتونکو، استازو، خبري رسنيو او ځانګړو ميلمنو په شمېر پورې اړه ولري چې تمه يې کيږي د شمېرنې له مرکز څخه به ليدنه وکړي. د بهيرنيو اړيکو ډلې به د شمېرنې د بهير په اړه د مالوماتي غونډو د برابرولو مسؤوليت په غاړه ولري.

د اجازه لرونکو کسانو ننوتل

د شمېرنې د مرکز کارکوونکو او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء کارکوونکو سر بيره، لاندې کسان اجازه لري چې د شمېرنې په مرکز کې حاضر وي چې د شمېرنې فعاليتونه وګوري. ټول کسان بايد د باورليک خپل رسمي پيژندپاڼه (نښان) او د پيژندنې تاييدوونکي اسناد د شمېرنې په مرکز کې هر وخت له ځان سره ولري.

- o د شمېرنې کارکوونکي، د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر غړي، د انتخاباتي شکايتونو د کمېسيون غړي، او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر او د انتخاباتي شکايتونو د کمېسيون اجازه لرونکي کارکوونکي.
- o د انتخاباتي ولايتي کمېسيون غړي
- o د باورليک لرونکو خبري رسنيو استازي
- o د راجسترشويو سياسي ګوندونو او کانديدانو استازي او کتونکي
- o د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر لخوا په ځانګړې توګه اجازه لرونکي ميلمانه
- o د نړيوالو کتونکو، خبري رسنيو او ځانګړو ميلمنو ژباړونکي
- o د شمېرنې د مرکز د مدير په بلنه پر دندو ګمارل شوي پوليس يا اجازه لرونکي امنيتي چارواکي

کتونکي او استازي

د ټاکنو کتونکي او استازي د ټاکنو د منصفانه بهير لپاره مهم رول لوبوي. کتونکي د باورليک لرونکو ناپيلو کورنيو يا نړيوالو مؤسسو غړي دي. استازي د سياسي ګوندونو، د خپلواکو کانديديدانو يا د ولسي جرګې يا د ولايتي شوراګانو د کانديدانو باورليک لرونکي غړي دي.

کتونکي او استازي اجازه لري چې:

- ❑ د شمېرنې د بهير په ترڅ کې د شمېرنې په مرکز کې وي
- ❑ د شپې له مخې د شمېرنې د مرکز په ټاکل شوې برخه کې پاتې شي.
- ❑ د رايي ورکولو د توکو د ترلاسه کولو او د پايلو د سپارلو په ګډون د شمېرنې ټول پړاوونه وګوري.
- ❑ د شمېرنې د مرکز شا او خوا وګرځي په دې شرط چې د هغه/هغې ګرځېدل د شمېرنې د مرکز د کارکوونکو په کار مداخله ونه کړي او يا يې خنډ ونه ګرځي.
- ❑ د ټولو فورمو بشپړيدل وګوري او په فورمو باندې د مالوماتو څخه خپل ځان لپاره په لاس يادښت واخلي.
- ❑ د توکو د ساتنې کتنه وکړي چې د شپې په ترڅ کې ساتل کيږي.

- د بهیرنیو اړیکو له کارکوونکو سره خپلې اندېښنې مطرح کړي.
- دانتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته لیکلی شکایت وړاندې کړي.

کتونکي او استازي اجازه **نلري** چې:

- د شمېرنې د مرکز کارکوونکو په دندو کې لاسوهنه وکړي یا یې خنډ وګرځي.
- د شمېرنې په مرکز کې د شمېرنې توکو ته لاس ورووړي.
- د رایه ورکوونکو (***P03***) لست یا کوم بل سند کاپي کړي چې هغه د رایه ورکوونکو د محرمیت په وړاندې تیری وي.
- د یوې ټاکنې د کاندید لپاره چې په هره طریقه وي کمپاین وکړي. په دې کې د یوې ټاکنې د کاندیدانو یا د کوم سیاسي ګوند د ټاکنیز نښان (سیمبول) ښودل یا د شمېرنې مرکز ته د کمپاین کولو د مالوماتو راوړل شامل دي.

د نړیوالو کتونکو ژباړونکي دشمېرنې په مرکز کې هیڅ ډول شخصي نظر نشي ښکندولی، دوی باید د شمېرنې پر کارکوونکو د اغیزې درلودو هڅه ونه کړي او دوی باید یوازې د ژباړونکي رول ترسره کړي.

### ***اندېښنو او شکایتونو ته ځواب ویل***

کتونکي او استازي د بهرنیو اړیکو کارکوونکو او د شمېرنې د مرکز مدیر ته خپلې اندېښنې ښکندولی شي. د بهرنیو اړیکو کارکوونکي او د شمېرنې د مرکز مدیر به د امکان تر حده دغه اندېښنې حلوي.

- ✓ سربیره پر دې، کتونکي، استازي او هر بل څوک چې د ټاکنیز بهیر سره لېوالتیا لري (په ګډون د خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو) کولی شي چې انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته شکایت وړاندې کړي که چېرې د دوی په اند بهیرونه په خپل وخت نه پلې کیږي. د بهرنیو اړیکو کارکوونکي باید شکایت کوونکي د انتخاباتي ولایتي کمېسیون اړوند غړي یا د همدې کمېسیون د شکایتونو صندوق ته رهنمایي کړي چېرې چې د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون د شکایت فورمې ترلاسه کېدای شي.

### *د خبري رسنیو د استازو دنده*

د خبري رسنیو استازي د ټاکنو د بهیرد ترسره کېدو په اړه خلکو ته د راپور په ورکولو کې مهمه دنده لري.

د خبري رسنیو باورلیک لرونکي استازي په هغه صورت کې د شمېرنې مرکز ته ننوتلی شي چې د شمېرنې د فعالیتونو په وړاندې خنډ نه ګرځي.

د خبري رسنیو استازي نشي کولی چې د بهیر د داسې برخې څخه فلم، عکس یا کاپي واخلي چې هغه حساس مالومات په ګوته کوي.

د خبري رسنیو استازي اجازه لري چې:

- د شمېرنې په مرکز کې د شمېرنې د بهیر په مهال حاضر وي.
- د رایې ورکولو د توکو د ترلاسه کولو او د پایلو د سپارلو په ګډون د شمیرنې ټول پړاوونه وګوري.
- د شمېرنې د مرکز د مدیر په خوښه د شمېرنې له مرکز څخه فلمبرداري وکړي.
- د شمېرنې د مرکز شا او خوا وګرځي په دې شرط چې د هغه/هغې ګرځېدل د شمېرنې د مرکز د کارکوونکو په کار او د شمېرنې په بهیر کې د لاس وهنې یا د خنډ سبب نه شي.

- د ټاکنو ولايتي مامور، د شمېرنې د مرکز د مدير يا د شمېرنې د نورو کارکوونکو سره د شمېرنې په مرکز کې مرکه وکړي که چېرې د انتخاباتو د تنظيم د کډ دفتر د دارالانشاء د ولايتي دفتر لخوا يې دمخه اجازه تر لاسه کړې وي.
- د کتونکي، استازي يا ځانګړي ميلمه سره د شمېرنې د مرکز څخه د باندې مرکه وکړي که چېرې د نوموړي کس خوښه وي.
- د شپې او لېږدونې په حال کې د توکو د ساتنې کتنه وکړي.

د خبري رسنيو استازي اجازه **نلري** چې:
- د يو کتونکي يا استازي سره د شمېرنې په ځای کې د ننه مرکه وکړي.
- د انتخاباتو د تنظيم د کډ دفتر د دارالانشاء د ولايتي دفتر د موافقې پرته د ځانګړي ميلمه سره د شمېرنې د مرکز په دننه کې مرکه وکړي.
- د يو چا د خوښې پرته د هغه/هغې فلم او عکس واخلي يا مرکه ورسره وکړي.
- د حساسو توکو د ثبت فلم يا عکس واخلي.
- د هر داسې سند فلم، عکس يا کاپي واخلي چې هغه د رايه ورکوونکي يا د رايي د سرچينې د محرميت په وړاندې تيرى وي.
- د شمېرنې په مرکز کې د توکو سره چال چلند وکړي.

## د خبري رسنيو مرکې

*د مرکو په ترڅ کې، د شمېرنې د مرکز مدير يا د شمېرنې واک لرونکي کارکوونکي* **حقيقي** *پوښتنو ته ځواب ويلی شي، لکه:*
- ✓ د شمېرنې کړنلارې
- ✓ د شمېرنې د کارکوونکي په توګه دندې او څه ډول روزنه ترلاسه شوه
- ✓ د ټاکنو د کارکوونکو لپاره د انتخاباتو د تنظيم د کډ دفتر کړندود

د شمېرنې د مرکز مدير يا د شمېرنې هر واک لرونکي کارکوونکي نشي کولی چې د څه په اړه رڼا واچوي يا نظر ورکړي لکه:
- ✓ په ځايي، سيمه ييزه او ملي کچه د پايلو ورکول
- ✓ د ټاکنو د منتظره پايلو په اړه رڼا اچول
- ✓ د کانديدانو، سياسي ګوندونو يا د ولسي جرګې يا ولايتي شوراګانو د ټاکنو په اړه رڼا اچول
- ✓ د پالېسۍ او کړنلارې په اړه نظرونه وړاندې کول يا د نورو موضوعګانو په اړه نظر ورکول
- ✓ پر ګونګوسو رڼا اچول

## د ننوتو اجازه

د بهرنيو اړيکو څارونکی د شمېرنې د مرکز د مدير په خبر او همکارۍ د شمېرنې مرکز ته د ننوتو د اجازې مسؤوليت په غاړه لري. د شمېرنې په مرکز کې په يو وخت کې د کسانو شمېر د بهرنيو اړيکو د څارونکي په واک دی.

د شمېرنې په مرکز کې په عيني وخت کې د عيني نهاد څخه له دوو زيات کتونکي، استازي يا خبري رسنۍ او د خبري رسنيو د يوه نهاد څخه له دوو څخه زياتي ډلې بايد موجودې نه وي. که چېرې په يو وخت کې ډېر زيات کسان حاضر وي او ګڼه ګوڼه د شمېرنې پر فعاليتونو اغيزه کوي، د بهرنيو اړيکو څارونکی به يو نوبتي مهال وېش ترتيب کړي څو هر څوک برابر لاس رسی ولري.

د ننوتو اجازه هغه کس ته نه ورکول کيږي که چېرې په پيژندپاڼې باندې د هغه/هغې نوم د پيژندني د تاييدوونکي سند سره يو شان نه وي. دا د بهرنيو اړيکو د کارکوونکو مسؤوليت دی چې د ټولو مېلمنو (ويزيترانو) د باورليک نښان (پيژندپاڼه) او د پيژندني تاييدوونکي سند وګوري.

د بهرنيو اړيکو کارکوونکی بايد د ميلمه (ويزيټر) نوم، د پيژندپاڼې (نښان) ګڼه، او د شمېرنې له ځای څخه د هغه/هغې د کتنې نېټه او وخت د بهرنيو اړيکو د ريکارډ ساتلو په کتاب کې ثبت کړي.

## ٥. د شمېرنې څلور پړاوونه

د شمېرنې د مرکز د ټيم د دندو په ګډون د شمېرنې د بهير پر څلورو پړاوونو په لاندې ډول رڼا اچول کيږي. پړاوونو تر هغې تکراريږي چې د رايې ورکولو د ځای ټول توکي په سمه توګه له پړاوونو تير او وشمېرل شي. د شمېرنې ټول توکي به په خوندي زيرمتون کې پاتې شي تر څو د پېښې په صورت کې چټک لاس رسي ته لاره هواره شي لکه که چيرې توپير (تفاوت) رامنځته شي يا د بيا شمېرنې امر وشي.

د کوچيانو د رايې ورکولو د ځايونو رای پاڼې به په جلا توګه د عيني کړنلارې له مخې وشمېرل شي. کوچيان د ولايتي شوراګانو رای پاڼې نلري. که چېرې په يو ولايت کې له ٥٠٠ څخه کمې رای پاڼې واچول شي، د ترلاسه کولو څخه وروسته د کوچيانو د رای پاڼو صندوقونه به د زيرمې په جلا برخې کې وساتل شي او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشاء به خبره کړی شي. د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د موافقې وروسته، د کوچيانو رای پاڼې به د ځانګړو لارښوونو له مخې د شمېرنې بل مرکز ته وليږدول شي چېرې چې هغه به ګډې او وشمېرل شي.

د توکو تعقيبول
هر وخت دا د شمېرنې د مرکز د مدير مسؤوليت دی څو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول توکي په سمه توګه د شمېرنې په مرکز کې تعقيبيږي. ددې لپاره چې له تعقيبولو سره مرسته وشي، د رايې ورکولو د ځايونو لست به د مخه موجود وي چې په دې لست کې د شمېرنې د بهير په ترڅ کې د پذيرايې وضعيت، د دستې کوډ او د رايې ورکولو د هر ځای اوسنی وضعيت ثبت شوی وي.


### *لومړی پړاو: د توکو ترلاسه کول*

| |
|---|
| ***د ترلاسه کولو د کارکوونکو د مسؤليتونو لنډيز*** |
| د ترلاسه کولو د برخې د څارونکي تر مسؤوليت لاندې، چې د رايې ورکولو د ځای له لست سره د رايې ورکولو د مرکز او ځای د توکو رارسيدل به ګوري، د ترلاسه کولو ډلې (هره ډله له دوو کسانو جوړه ده) به د ترلاسه شويو توکو وضعيت ګوري. |
| د راپور مامور د رايې ورکولو توکي د شمېرنې مرکز ته راوړي او تر هغه وخت د توکو د لاس ته راوړلو په ځای (يا اينټيک) کې پاته کيږي تر څو ټول هغه توکي چې دده يا دې تر مسوولیت لاندې رايې ورکولو د ځايونو څخه د توکو د لاس ته راوړلو د ډلې لخوا پروسيس کيږي. |
| د ترلاسه کولو يو مامور د ترلاسه کولو (L01) فورمه بشپړوي. د ترلاسه کولو بل مامور ګوري چې: |
| ✓ د رايې ورکولو د راپور (P01) فورمې موجودي او بشپړ شوي دي. |

✓ د انتخاباتي شکايتونو د کمېسيون لپاره د ترلاسه شويو شکايتونو شمېر.
✓ د رای پاڼو د ترلاسه شويو صندوقونو شمېر او د مهرونو پوښان شمېرې.
✓ د توکو د ترلاسه شويو صندوقونو شمېر او د مهرونو پوښان شمېرې.

کوم وخت چې د رايي ورکولو يو مرکز له پړاوونو تېر شي، د رايي ورکولو ددغه مرکز د رايي ورکولو د ټولو ځايونو لپاره د رای پاڼو او د توکو صندوقونه د زيرمې برخې ته د ترلاسه کولو د (L01) فورمې سره يو ځای وړل کېږي.

درېيم شکل: د تر لاسه کولو نخشه




## د تر لاسه کولو د ډلو لپاره لړی

د رايي ورکولو د مرکزونو او ځايونو د توکو د رارسيدو سره سم، د ترلاسه کولو څارونکی بايد د رايي ورکولو د ځای په لست کې د رايي ورکولو د مرکزونو او ځايونو د توکو رارسيدل ثبت کړي.

١. د راپور مامور لاندې صندوقونه د رايي ورکولو د هر ځای لپاره په فرش باندې په شمېريز ترتيب سره ابېردي چې د رايي ور کولو د لومړي ځای څخه پيلېږي:
✓ د ولسي جرګې د رای پاڼو صندوقونه
✓ د ولايتي شوراګانو د رای پاڼو صندوقونه
✓ د توکو صندوقونه

۲. د تر لاسه کولو یو مامور د راپور او د شکایتونو د فورمو کڅوړه پرانېزي او د رایې ور کولو د لومړي ځای لپاره د رایې ور کولو (P01) فورمه لیرې کوي. د توکو د ترلاسه کولو یو بل مامور د ترلاسه کولو په (L01) فورمه کې ورته د ثبت کرښې بشپړې کوي، د ترلاسه کولو بل مامور لاندې توکي ګوري.

- ✓ د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمې موجودیت .
- ✓ د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون لپاره د تر لاسه شوو شکایتونو شمېر.
- ✓ د ولسي جرګې لپاره د رای پاڼو د ترلاسه شوو صندوقونو شمېر.
- ✓ د رایې ورکولو د راپور په (P01) فورمه کې د مهر ثبت شوې شمېرې د ولسي جرګې د رای پاڼو د صندوقونو د مهرونو سره ورته والی لري.
- ✓ د ولایتي شوراګانو د رای پاڼو د ترلاسه شوو صندوقونو شمېر.
- ✓ د رایې ورکولو د راپور په (P01) فورمه کې د مهر ثبت شوې شمېرې د ولایتي شوراګانو د رای پاڼو په صندوقونو کې د مهرونو سره ورته والی لري.
- ✓ د توکو د تر لاسه شوو صندوقونو شمېر.
- ✓ د رایې ورکولو د راپور په (P01) فورمه کې د مهر ثبت شوې شمېرې د توکو پر صندوقونو باندې له مهرونو سره ورته والی لري.

د هرې ټاکنې لپاره د رای پاڼو او توکو د صندوقونو شمېر د رای پاڼو او توکو د صندوقونو د هغه شمېر سره مساوي دي چې د رایې ور کولو د راپور په (P01) فورمه کې ثبت شوي دي. که چېرې د رای پاڼو یو ورکړل شوی صندوق واپس نشي، د ترلاسه کولو مامور به د راپور له مامور څخه د رای پاڼو د صندوق د کارولو په اړه پوښتنه کوي. که چېرې د رای پاڼو کارول شوی وي، د راپور په (L04) فورمه کې باید ثبت شي. که چېرې نه وي کارول شوی، د راپور په (L01) فورمه کې کتنه (ملاحظه) باید ولیکل شي. که چېرې د رای پاڼو یو صندوق خالي بیرته راولیږل شي، د راپور په (L01) فورمه کې کتنه (ملاحظه) باید ولیکل شي.

۳. د راپور مامور خپل نوم او د نوم سر توري[1] د ترلاسه کولو په (L01) فورمې باندې په صحیح ستون (کالم) کې لیکي.

٤. د ترلاسه کولو یو مامور خپل نوم او د نوم سر توري د ترلاسه کولو په (L01) فورمې باندې په صحیح ستون کې لیکي.

٥. د ترلاسه کولو یو مامور د رای پاڼو او توکو صندوقونه په آسماني رنګه پټی سره د رایې ورکولو د ځای د مښلېدونکي پاڼې پر سر باندې چار چاپېر تړي.

٦. شکایتونه د انتخاباتو د ولایتي کمېسیون د شکایتونو په صندوق کې اچول کیږي.

۷. نوموړې پروسه د رایې ورکولو د مرکز په ټولو ځایونو کې تکراریږي.

۸. کله چې د رایې ور کولو د یو مرکز ټول ځایونو له پراوونوڅخه تیر شي، د رایې ور کولو د مرکز صندوقونه او د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمې د ترلاسه کولو د (L01) فورمې سره یو ځای د زېرمې برخې ته د زیرمې د کارکوونکو له خوا باید راوړل شي.

---

1 د بېلګې په ډول، خیرمحمد منګل: ددې نوم سر توري خ.م دي.

***د ترلاسه کولو پر مهال ستونزې***

**د رای پاڼو یا د توکو د صندوقونو ورکېدل یا په ناسمه توګه نښه (لیبل) وربانديٍ لګول :** د ترلاسه کولو کارکوونکي د رایې ورکولو د ځای کوډ په نښه (لیبل) باندې لیکي څو د توکو او یا رای پاڼو په صندوقونو پورې ونښلول شي.

<u>د پام وړ: د رای پاڼو او توکو صندوقونه له مناسبي نښې (لبیل) پرته د زېرمه برخې ته نه شي لیږدول کېدای.</u>

**ورک یا مات شوي مهرونه:** د ترلاسه کولو مامور د رای پاڼو صندوق بیا مهر کوي، او د رایې ورکولو د راپور په (P01) فورمه کې د نوي مهر ګڼه په سره قلم سره ثبتوي او د ترلاسه کولو د (L01) فورمې د کتنو (Remarks) په کالم کې یادښت نیسي چې د رای پاڼو صندوق مهر شوی دی.

**د رایې ور کولو د راپور د (P01) فورمې په نا سمه توګه بشپړول:** په هغه صورت کې چې د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمه په ناسمه توګه بشپړه شوې وي، د ترلاسه کولو ټیم به له دې څخه د ترلاسه کولو د (L01) فورمې د "کتنو" په کالم کې یادښت ونیسي. د رای پاڼو پر صندوقونو د مهر شمېرې به د رایې ور کولو د راپور په (P01) فورمه کې په سره قلم ثبت کړای شي. که چېرې ضروري وه د ترلاسه کولو ټیم به د توکو صندوق وګوري څو ناکارول شوي، ضایع شوې او فسخه شوې رای پاڼې او د رایه ورکوونکو په (P03) لست کې د ثبت کرښې وګوري.

**د رایې ور کولو د راپور (P01) فورمې ورکېدل:** د رایې ور کولو د راپور (P01) فورمې د ورکیدو په صورت کې، د ترلاسه کولو ټیم باید د رایې ورکولو د راپور(P01) نوې فورمه جوړه کړي او د رایې ور کولو د ځای د کوډ سره یو ځای، چې د توکو صندوق ورڅخه راغلی دی، د توکو او د رای پاڼو د صندوقونو د مهر شمېرې ثبت کړي. د ترلاسه کولو ټیم باید د ترلاسه کولو د (L01) فورمې د "کتنو" په کالم کې ددې یادښت ونیسي او د توکو صندوق وګوري څو دناکارول شوو، ضایع شوو، او بیکاره شوو رای پاڼو شمېر او د رایه ور کوونکو په (P03) لست کې د ثبت کرښې وګوري.

**د پام وړ:** د رایې ورکولو د ځای توکي د زېرمې برخې ته د رایې ورکولو د راپور ورته (P01) فورمې پرته نه شي لیږدول کېدای. که چېرې د ترلاسه کولو پر مهال د توکو صندوق پرانېستل شي، د توکو صندوقونه باید له سره مهر شي او د مهر شمېرې باید په سره قلم سره د رایې ورکولو په (P01) فورمه کې ثبت کړل شي.

**د رای پاڼو د صندوق ورکیدل:** د رای پاڼو د صندوق د ورکیدو په صورت کې، د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمې له مخې، د ترلاسه کولو ډله د راپور په (L04) فورمه کې ټاکل شوي ځایونه بشپړوي او د راپور په مامور باندې یې لاسلیکوي. د رایې ورکولو د هغه ځای د رای پاڼو ټول صندوقونه باید په ژیړه پټۍ سره وتړل شي. د راپور (L04) فورمه باید د لازیاتو اقداماتو لپاره د حساب د تصفیې ډلو ته وسپارل شي.

**د توکو د صندوق ورکیدل:** که چېرې د توکو یو صندوق ورک شي، یادښت یې باید د راپور په (L04) فورمه کې ولیکل شي او د راپور مامور یې باید لاسلیک کړي. نورې پلټنې باید د تطبیق په وخت کې تر سره شي. د لازیاتو اقداماتو لپاره د راپور (L04) فورمه باید د حساب د تصفیې ټیمونو ته وسپارل شي.

## دویم پړاو: د توکو لومړۍ زیرمه

د توکو لومړۍ زیرمه

د زیرمې د برخې د څارونکي تر څارنې لاندې، د زیرمې کارکوونکي به د رایې ورکولو د ځای د رای پاڼو صندوقونه په ټاکل شوو برخو کې په شمېریز ترتیب سره وساتي. د توکو صندوقونه به په جلا برخه کې په شمېریز ترتیب سره زیرمه کړی شي.

د زیرمې لړۍ

د رایې ورکولو د مرکز د توکو د ترلاسه کولو سره سم، د زیرمې د برخې څارونکی د رایې ورکولو د هر مرکز په اړه په لاندې ډول ګام پورته کوي:

۱. د رایې ورکولو د ځای د رای پاڼو او توکو صندوقونه، د ترلاسه کولو (L01) فورمه او د رایې ورکولو د راپور ټولې فورمې ترلاسه کوي

۲. د ترلاسه کولو (L01) فورمه د رایې ورکولو د مرکز په شمېریز ترتیب کې په دوسیه (بایندر) کې ایږدي.

۳. د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمې د رایې ورکولو د ځای په شمېریز ترتیب کې د دوسیو په آلمارۍ کې ایږدي.

٤.د زیرمې پر کارکوونکو امر کوي چې د توکو او رای پاڼو صندوقونه د زیرمې ټاکل شوو برخو ته راوړي.

| |
|---|
| د رایې ورکولو د هغو ځایونو د رای پاڼو صندوقونه چې یو یې ورک شوي وي، د لازیاتې پلټنې لپاره به په جلا توګه زیرمه شي. د رایې ورکولو د دغو ځایونو څخه د رایې ورکولو د راپور **(P01)** فورمه او د راپور **(L04)** فورمه په جلا دوسیه کې د دوسیو په کلپیډولو آلمارۍ کې د رایې ورکولو د ځای د شمېرې له مخې زیرمه کیږي. |

## دریم پړاو: د تطبیق، ګډولو او شمېرلو لړۍ

ددې لپاره چې د رایې د سرچینې محرمیت باوري شي، د شمېرنې مدیر یا د هغه/هغې پر ځای ټاکل شوی کس مخکې له دې چې د رای پاڼو صندوقونه د تطبیق، ګډولو او شمېرلو لپاره ولیږي د امکان تر حده به د زیاتو ولسوالیو د رایې ورکولو له مرکزونو څخه په اوسط ډول د رایې ورکولو له پنځو ځایونو دستې جوړې کړي.

هیڅ دسته به د لږترلږه دوو ولسوالیو څخه د رایې ورکولو له دوو څخه کم ځایونه ونلري. په هیڅ دسته کې به د هرې ټاکنې لپاره د ۱۰۰ څخه کمې رای پاڼې نه وي. یادګیرنه: د شمېرنې د مودې پای ته نږدې دا اړینه ده چې د شمېرنې د مرکز مدیر د ټولو دستو د جوړېدو څارنه وکړي څو ډاډ ترلاسه کړي چې د رایې ورکولو له وروستیو ځایونو څخه رای پاڼې په سم ډول سره ګډیږي.

لاندې توکي به یوه دسته جوړه کړي:

--د هرې ټاکنې لپاره د پایلې یوه (**L02**) فورمه
--د رایې ورکولو د هر ځای لپاره د رایې ورکولو د راپور یوه (**P01**) فورمه
--په دسته کې د هرې ټاکنې څخه د رایې ورکولو د ټولو ځایونو لپاره د رای پاڼو صندوقونه

په دسته کې د رایې ورکولو د هر ځای لپاره رای پاڼې به لومړۍ تطبیق شي. بیا په دسته کې د رایې ورکولو د ټولو ځایونو څخه د ولسي جرګې رای پاڼې به ګډې او وشمېرل شي چې له دې وروسته به د رایې ورکولو د ټولو ځایونو څخه د ولایتي شورا رای پاڼې به ګډې او وشمېرل شي. د هرې ټاکنې پایلې به د پایلې په (**L02**) فورمو کې ثبت شي.

د دستو جوړونه

د شمېرنې برخې ته د رای پاڼو د صندوقونو له لیږدولو مخکې، د شمېرنې مدیر یا د هغه/هغې په ځای ټاکل شوی کس به د زیرمې په برخه کې په لاندې ډول بشپړول ترسره کړي؛

١. د دستې کوډ د پایلې په دواړو (**L02**) فورمو باندې لیکي (یوه د هرې ټاکنې لپاره).

<table>
<tr><td>

***د دستې کوډونه***

د دستې کوډ به د رایې ور کولو د ځای د رای پاڼو د صندوقونو، د شمېرنې د فورمو (د بشپړه او یا نا بشپړه کوډونه استعمال په فورمې پورې اړه لري)، او د هغو دوسیو د نښانې کولو لپاره په کارېږي چې د شمېرنې د فورمو د زیرمه کولو لپاره کارول کیږي.

د شمېرنې د مرکز کوډ (دوه شمېریزه) \ د ټاکنو ډول ( یو عدد، ولسي جرګه - ١، ولایتي شورا – ٢ ، کوچي – ٣) \ د بستې شمېره (څلور شمېریزه)

د بېلګې په توګه، د هرات په ولایت کې د رایې ورکولو د ځایونو لومړی دسته به لاندې کوډونه ولري:
ولسي جرګه: ٢٤/١/٠٠٠١
ولایتي شورا: ٢٤/٢/٠٠٠١

د هرات په ولایت کې د کوچیانو د رایې ور کولو د ځایونو لومړی دسته به لاندې کوډ ولري: ٢٤/٣/٠٠٠١

</td></tr>
</table>

**٢.** د رایې ورکولو د یو مرکز څخه د رایې ورکولو یو ځای غوره کوي چې هغه به د دستې یوه برخه وي.

٣. د دستې د کوډ وروستی څلور شمېرې د ترلاسه کولو (L01) فورمې په صحیح کالم کې لیکي.

٤. د پایلې (L02) په دواړو فورمو باندې د رایې ورکولو د ځای کوډ لیکي (د هرې ټاکنې لپاره یوه)

٥. د رایې ورکولو د مختلفو مرکزونو څخه د رایې ورکولو د څلورو ځایونو لپاره بهیر تکراروي.

٦. د دستي د ترلاسه کولو لپاره چې يو ځل د شمېرنې ځانګه تياره شي، د دستي توکي بايد د شمېرنې ځانګې ته د تطبيق، ګډولو او شمېرلو لپاره د زيرمې د کارکوونکو لخوا راوړل شي.

**د تطبيق لړۍ**

١. د شمېرنې د ځانګې د ډلې ځارونکی د زيرمې له کارکوونکي څخه لاندې توکي ترلاسه کوي:

- ✓ د رايې ورکولو د هر ځای لپاره د رايې ورکولو د راپور (P01) فورمه او د پايلې (L02) فورمه
- ✓ په دسته کې د رايې ورکولو د ټولو ځايونو څخه د رای پاڼو صندوقونه

٢. د شمېرنې د ځانګې د ډلې ځارونکی د رايې ورکولو د لومړي ځای د ولسي جرګې د رای پاڼو د صندوق څخه مهر شلوي او پر ميز يې خالي کوي.

٣. ټول شمېرونکي رای پاڼې په داسې ډول پرانيزي چې د رای پاڼو مخونه لاندې وي؛ د شمېرونکو څلور ډلې کار کوي. هره ډله له دوو شمېرونکو څخه جوړه ده. له دوو شمېرونکو څخه يو شمېرونکی تر پنځوسو رای پاڼو شمېري او دويم شمېرونکی يې له سره شمېري او رای پاڼې په ربړ (لاشتېک) سره تړي.

٤. بهير د رايې ورکولو د هغه ځای د ولسي جرګې د رای پاڼو د نورو صندوقونو لپاره تکرارېږي.

| |
|---|
| که چيرې د ولايتي شورا د ټاکنو رای پاڼه پيدا شوه، هغه بايد په ميز باندې جلا وساتل شي چې کتونکو ته په واضح ډول ښکاري او دا رای پاڼه به هغه وخت وشمېرل شي کله چې د ولايتي شورا د رای پاڼو صندوقونه د رايې ورکولو د هغه ځای لپاره تطبيقېږي. |

٥. که چېرې د رای پاڼو په وروستي بنډل کې د ٥٠ څخه کمې رای پاڼې وي، د شمېرنې د ځانګې ځارونکی رای پاڼې په ربړ سره تړي او د کاغذ يوه ټوټه ورسره ايږدي چې په بنډل کې د رای پاڼو شمېر په ګوته کوي.

- o د شمېرنې د ځانګې ځارونکی د رايې ورکولو د راپور (P01) فورمه بشپړوي او د ولسي جرګې د ترلاسه شويو رای پاڼو له شمېر څخه رای پاڼې منفي کوي (پنځم خانه):
  - ✓ د ناکارول شويو رای پاڼو شمېر (شپږم خانه).
  - ✓ د ضايع شويو رای پاڼو شمېر (اووم خانه).
  - ✓ د بيکاره شويو رای پاڼو شمېر (اتم خانه).
  - ✓ د رای پاڼو په صندوقونو کې د ترلاسه شويو رای پاڼو شمېر (پنځلسم خانه).
- o د شمېرنې د ځانګې ځارونکی بيا د لاندې مالوماتو ريکارډ ونيسي:
  - ✓ په ''تطبيق'' کې توپير (شپاړسم خانه) (دا بايد صفر وي).

د بېلګې په ډول، د رايې ورکولو A ځای ٨٠٠ رای پاڼې ترلاسه کړې. ٢٥٠ نااستعمال شوې رای پاڼې واپس شوې، ٢ رای پاڼې ضايع شوې او ٣ رای پاڼې بيکاره شوې. د رای پاڼو د تطبيق په ترڅ کې، ٥٤٥ رای پاڼې د رای پاڼو په صندوقونو کې پيدا شوې.

حساب په لاندي ډول وي:
۸۰۰ ترلاسه شوې رای پاڼي-۲۵۰ نااستعمال شوې رای پاڼي-۲ ضایع شوې رای پاڼي-۳ بیکاره شوې رای پاڼي-۵٤۵ رای پاڼي د رای پانو په صندوق/صندوقونو کې پیدا شوي.

د رايي ورکولو د راپور (P01) فورمه به بیا په لاندي ډول بشپړ شي.

| | |
|---|---|
| ۵. د ترلاسه شویو رای پانو شمیر/ تعداد اوراق رایدهی دریافت شده<br>5. Number of ballots received | 800 |
| ٦. د ناکارول شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رایدهی استفاده ناشده<br>6. Number of unused ballots | 250 |
| ۷. دضایع شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رایدهی ضایع شده<br>7. Number of spoiled ballots | 2 |
| ۸. د فسخه شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رای دهی دورانداخته شده<br>8. Number of discarded ballots | 3 |

| | |
|---|---|
| **۱۵. د رای پانو په صندوقونو کې د پیدا شویو رای پانو شمیر**<br>**تعداد اوراق رای دهی دریافت شده درصندوق های رای دهی**<br>15. Number of ballots found in the Ballot Boxes | 545 |
| **۱٦. تطبیق / تطبیق** / 16. Reconciliation | 0 |

٦. د شمېرني د ځانګي څارونکي د رای پانو په هغو بنډلونو کې د پانو توټي لیرې کوي چې له ۵۰ څخه د کمو رای پانو شمېر په ګوته کوي او د رای پانو په صندوقونو کې د رای پانو بنډلونه ایږدي.

۷. همدا بهیر د ولایتي شورا د رايي ورکولو د هغه ځای د رای پانو د صندوقونو لپاره تکراریږي.

۸. همدا بهیر بیا په دسته کې د رایي ورکولو نورو ځایونو لپاره تکراریږي.

**د توپیر په صورت کې څه باید وشي**

*که چېرې د دوارو ټاکنو لپاره د رایي ورکولو د یو ځای تر تطبیق وروسته، د رای پانو شمېر چې د رایي ورکولو د PO1 په فورمه کې ریکارډ شوي دی منفي د ناکارول شویو، خرابې شویو،او بېکاره شویو رای پانو پایلې صفر نه وي، نو*

الف. د هغي ټاکني لپاره باید د رای پانو ټول شمېر د دویم ځل لپاره وشمېرئ چېرې چې توپیر د صفر څخه لوړ دی

ب. که چېرې توپیر دوام ولري خو په هغه منلي کچه وي چې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر له خوا ټاکل شوي وي، نو رای پاڼي به ګډې کړای شي

ت. که چېرې توپیر د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر له خوا د ټاکل شوي کچې څخه لوړ وي، په هغه صورت کې به رای پاڼي نه سره ګډېږي او د رای پانو صندوقونه به د پخوانی آسماني رنګه پټی د پاسه په ژېړه پټی په نښه شي.

ث. د شمېرنې د ځانګي څارونکی د رايي شمېرنې د مرکز مدیر ته راپور ورکوي. د رایي شمېرنې د مرکز مدیر به د (L04) د راپور فورمه ولیکي او د شمېرنې مامورینو ته به لار

ښوونه وکړي چې ناکارول شوې، خرابې شوې، بېکاره شوې او د رایې ورکولو د اړونده ځای د رایه ور کوونکو د (P03) لېست کې د داخلو شوو کربنو شمېر وګوري.

ج. که چېرې د حساب د تصفیه کولو وروسته ټاکل شوې توپیر په خپل حال پاتې و په هغه صورت کې به د ټاکنو ولایتي مامور د موضوع په هکله د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د پرېکړې لپاره په کابل کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر ته راپور ور کړي.

ح. د رایې ورکولو د ځای د رای پاڼو ټول صندوقونه به له شمېرلو پاتې شي. د رایې ورکولو د ځای کوډ به د (L02) د پاڼلو له فورمې څخه لېرې کړای شي.

**که چېرې په څرګند ډول د ټګی هڅې کیږي په هغه صورت کې به څه کیږي**

أ. د بېلګې په توګه، که چېرې د کنټلو پر مهال مالومه شي چې په ډېره زیاته کچه رای پاڼې عین کاندید ته اچول شوې دي یا که چېرې رای پاڼې کاټ شوې نه وي یا په منظمه توګه نه وي ټاپه شوې، په دې صورت کې باید د شمېرنې د څانګې څارونکی د نوموړې پېښې په هکله د شمېرنې د مرکز مدیر ته راپور ورکړي.

ب. د شمېرنې د مرکز مدیر به ارزونه کوي که چېرې کومه ټګې رامنځته شوې وي. په دا ډول حالاتو کې به نوموړی مدیر\مدیره د رای پاڼو د نه تطبیقولو او د رای پاڼو د صندوقونو په پخوانی شنه پټی د ژیړې پټی د مهر کولو لاربښودنه وکړي.

ج. د شمېرنې د مرکز مدیر به د (L04) د راپور فورمه بشپړه کړي. د ټاکنو ولایتي مامور به د موضوع په هکله د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د پرېکړې لپاره په کابل کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر ته راپور ورکړي.

**د رای پاڼو د ګډونې لړۍ**

١. رایې شمېرونکي په غیر منظم ډول د ولسي جرګې د رای پاڼو د بېلا بېلو صندوقونو څخه د رای پاڼو بنډلونه را اخلي او د مېز په سر یې په غیر منظم ډول ږدي.

٢. رایې شمېرونکي د رای پاڼو بنډلونه د مېز پرسر سره ګډوي.

٣. رایې شمېرونکي د رای پاڼو بنډلونه بېرته د رای پاڼو په صندوقونو کې په غیر منظم ډول اچوي.

**د شمېرنې لړۍ**

رایې شمېرونکي په دوو ډلو وېشل کیږي چې یوه ډله به رای پاڼې لولي (ویونکي) او د شمېرونکو بله ډله به رای پاڼې سره بېلوي (بېلونکي).

د کالم له مخې د رای پاڼو مخکنۍ بېلول:

په رای پاڼه کې د کاندیدانو ترتیب په کالمونو (ستونونو) کې ځای پر ځای شوي دي. د رای پاڼې د اندازې او په رای پاڼه کې د کاندیدانو د شمېر له کبله، رای پاڼې به په هر کالم او بیا په هر کاندید باندې د مخه ډلبندي (دسته) شي. د شمېرنې د ځانګې څارونکی به د هر کالم لپاره د میز پر سر یو ځای وټاکي او د ټاکل شوي ځای پر سر باندې د کاغذ یوه ټوټه د کالم د شمېرې سره یو ځای ایږدي. د رای پاڼې په لومړي مخ کې د ښی خوا څخه ۱ کالم لومړی کالم دی.

۱. د شمېرنې د ځانګې څارونکی هر لوستونکي ته په یو وخت کې د رای پاڼو یو بنډل ور کوي.

۲. په یو وخت کې یوه رای پاڼه د دې لارښود په ۸ برخه کې د تهیه شوو بېلګو په مرسته، ویونکی دا په ګوته کوي چې ایا په رای پاڼه کې کاندید په سمه توګه په نښه شوی دی او که نه. که چېرې رای پاڼه د کتابګې شکل ولري په هغه صورت کې باید ټولې پاڼې وکتل شي څو باوري شي چې بل ځای نه دی په نښه شوې.

۳. کله چې ویونکی دا مالومه کړي چې په رای پاڼه کې کاندید په سمه توګه په نښه شوی دی، بېلوونکی (ډلبندي کوونکي) به رای پاڼه په اړوند کالم کې کوټه (دلۍ) کړي، څو د نښې لیدل باوري کاندي.

٤. په هغه صورت کې چې ویونکی د رای پاڼې په مشروعیت باور ونه لري یا که چېرې رای پاڼه په نښه شوې نه وي، بېلوونکی د نوموړې رای پاڼه د شمېرنې د ځانګې د څارونکي مېز ته راوړي او د شکمنو رای پاڼو په دلۍ کې یې ځای پر ځای کوي.

٥. نوموړی بهیر تر هغه دوام کوي څو ټول بنډلونه ډلبندي (بستي) کړای شي.

٦. د دې لارښود په ۸ مه برخه کې د تهیه شوو بېلګو مطابق د شمېرنې د ځانګې څارونکی شکمنې رای پاڼې یوه یوه تر غور لاندې نیسي.

٧. بیلوونکي د رای پاڼو انبار (دلۍ) د ربړ په وسیله تړي او د شمېرنې د ځانګې څارونکي ته یې راوړي چې پیل یې په وروستي کالم سره شوی وي.

٨. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د رای پاڼو انبارونه (دلۍ) د کالمونو په ترتیب سره د میز پر سر په ټاکل شوي ځای کې یا د رای پاڼو د صندوقونو په منځ کې ایږدي.

د هر کاندید په نوم د رای پاڼو ډلبندي، شمېرنه او د پایلو ریکارډ:

۱. د شمېرنې د ځانګې څارونکی په میز باندې ۱ کالم پورې اړوند د هر کاندید لپاره یو ځای ټاکي او د ځای پر سر باندې د کاغذ یوه ټوټه چې د کاندید شمېره ورباندې لیکل شوې ایږدي.

۲. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د ۱ کالم څخه هر لوستونکي ته رای پاڼې ورکوي.

۳. ویونکی مالوموي چې د کوم کاندید لپاره رای پاڼه اچول شوې او بیلوونکی رای پاڼه په هغه دلۍ (کوټه) کې اچوي چې د کاندید لپاره ټاکل شوې ده.

۴. د هر انبار (دلی یا کوټي) رای پاڼي دوه ځله شمېرل کیږي (د دوو جلا شمېرونکو له خوا) او د کاندیدانو استازو او کتونکو ته د رای پاڼو د لیدو اجازه ور کول کیږي. د ۵۰ رای پاڼو لرونکی هر بنډل د ربړ په وسیله تړل کیږي.

۵. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د کاندیدانو شمېر او د نوموړي کاندید لپاره ترلاسه شوې رای پاڼې د کاغذ پر یوه ټوټه ثبتوي څو د لومړي کاندید له بنډل سره مل شي اود هغه کاندید شمېره او اچول شوې رای پاڼې اعلانوي.

٦. د شمېرنې د ځانګې څارونکی پایلې د کاندیدانو له مخې د پایلو د (L04) په فورمې په مناسب ځای کې ثبتوي او د کاندیدانو د ستون له سر څخه د نوموړي ستون (کالم) فرعي مجموعه ثبتوي. که چېرې یو کاندید هیڅ رایه په لاس را نه وړي، نو د هغه په خانه کې یو لیکه را کشېږي.

۷. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د هغه کالم لپاره د رای پاڼو فرعي مجموعه محاسبه کوي او د پایلو (L02) فورمې په مناسبې برخې کې د زیاتونې ریکارډ ساتي.

۸. دشمېرنې د ځانګې څارونکی د ۱ کالم رای پاڼې د رای پاڼو په یو صندوق کې اچوي.

نوموړی بهیر تر هغه دوام کوي څو ټول کالمونه ډلبندي کړای شي.

د پایلې (L02) فورمې وروستی بشپړونه

۱. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د رای پاڼو فرعي مجموعه جمع او د هغو رای پاڼو مجموعه چې په سمه توګه په نښه شوې دي د اړونده صندوق د پایلو (L02) فورمې په مناسبې برخې کې ثبتوي.

۲. د شمېرنې د ځانګې څارونکی او یو شمېرونکی قانوني خالي رای پاڼې شمېري او د شمېرنې د ځانګې څارونکی د هغو شمېرې د پایلو د (L02) د فورمې په مناسب ځای کې ثبتوي.

۳. د شمېرنې د ځانګې څارونکی او یو شمېرونکی غیر قانوني رای پاڼې شمېري او د شمېرنې د ځانګې څارونکی د نوموړو رای پاڼو شمېر د پایلو د (L02) د فورمې په مناسب ځای کې ثبتوي.

۴. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د رای پاڼو ټول شمېر مجموعه او د ثبت کرښې د پایلو د (L02) د فورمې په مناسب ځای کې ثبتوي.

۵. د رای شمېرنې د مرکز مدیر یا د رای شمېرنې د ساحې څارونکی یا ټاکل شوی کس د پایلو د (L02) په فورمه کې زیاتونې ګوري.

٦. د شمېرنې د ځانګې څارونکی د پایلو د (L02) فورمه لاسلیک او همدارنګه د شمېرنې د مرکز مدیر یا د شمېرنې د ځای څارونکي یا د ټاکل شوي کس له خوا د هغه یا هغې په مقابل (یا د دویم ځل لپاره) لاسلیک کیږي.

۷. د شمېرنې د څانګې څارونکی د رای پاڼو په هغو صندوقونو چې شمېرل شوې رای پاڼې لري (د رایې ورکولو د ځای په نښان [مارکه]) د بستې د کوډ وروستي څلور شمېرې لیکي او د رای پاڼو صندوقونه د عددي شمېرې له مخې په نښه کوي چې له ۱ څخه پیل کېږي.

۸. د شمېرنې د څانګې څارونکی د رای پاڼو صندوقونو ته د رای پاڼو بېرته اچول باوري کوي.

| |
|---|
| غیر قانوني رای پاڼې او خالي قانوني رای پاڼې د نورو شمېرل شوو رای پاڼو د بستې سره یوځای د رای پاڼو په ۱ نمبر صندوق کې اچول کېږي. |

۹. د شمېرنې د څانګې څارونکی د رای پاڼو هغه شمېره لرونکې صندوقونه چې شمېرل شوې رای پاڼې لري د آسماني پټې د پاسه د زرغونې پټې په وسیله تړي، د رای پاڼو صندوقونه مهر، مهرونه د مهرونود ریکارډ په (L03) فورمه کې ثبتوي او فورمه د نېټې او وخت سره یو ځای لاسلیکوي.

| |
|---|
| بهیر د ولایتي شورا د رای پاڼو لپاره تکراریږي. یو ځل چې د دواړو ټاکنو رای پاڼې وشمېرل شي، د رای پاڼو صندوقونه او د پایلو (L02) فورمې، د رایو ورکولو د راپور د (P01) او د مهرونو د ریکارډ د (L03) فورمې د زېرمه کولو د مامورینو او شمېرنې د مدیر او یا هم د شمېرنې د ساحې د څارونکي یا د ټاکل شوي کس له خوا بېرته د زېرمه برخې ته راوړل کېږي. |

| |
|---|
| که چېرې د شمېرنې د څانګې یو څارونکی بل څارونکي ته مرکز سپاري ( د بېلګې په ډول کله چې د شمېرنې یو مرکز دوه یا زیات نوبته [شیفټه] پر مخ بیایي) د شمېرنې د څانګې لومړی څارونکی به د شمېرنې د څانګې دویم څارونکي ته د تطبیق شوو، ډلبندي شوو او شمېرل شوو رای پاڼو د شمېر په ګډون د شمېرنې د وضعیت په اړه مالومات ورکوي. د شمېرنې د څانګې دویم څارونکی به باوري کوي چې د اړتیا له مخې د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمه او د پایلې دواړه (L02) فورمې په سم ډول بشپړې شوي دي. د شمېرنې د څانګې دویم څارونکی به د راپور (L04) فورمه بشپړه کړي چې نوموړې فورمه به د هغې دستې د فورمو سره وساتل شي.<br><br>د مرکز سپارنه د شمېرنې د څانګې دڅارونکو تر منځ د تطبیق په پای کې، د کالم له مخې د ډلبندۍ په پای کې یا کله چې د پایلې د (L02) فورمې د ټول مخ (صفحې) رای پاڼې شمېرل شوې وي.<br><br>دا به د شمېرنې د ځینو څانګو د نوبت (شیفټ) د پای ته رسیدو څخه مخکې د کار د خلاصیدو سبب وګرځي ځکه چې دوی به ددې توان ونلري چې شمېرنه پیل کړي که چېرې دوی د نوبت د پای ته رسیدو په یو ساعت کې تطبیق پای ته ورسوي. |

## ځلورم پړاو: د پایلو لیږل او وروستۍ زېرمه

د زېرمې د کارکوونکو او د شمېرنې د مدیر یا د شمېرنې د ساحې د څارونکي او د زېرمې څارونکي له خوا د شمېرل شوو بستو د تر لاسه کولوسره سم، د زیرمې څارونکی:

١. د (L02) فورمې فوټو کاپي کوي او کټونکو ته یې د ښودنې لپاره په دوسیې کې ایږدي او یا یې د یادښت پرتخته نښلوي .

٢. د عملیاتي لارښونو سره سم چې په جلا ډول به ورکړل شي په شخصي ډول د رایو ورکولو د راپور د(P0l) فورمې او د پایلو (L02) فورمې سکن (Scan) کوي (او یا د سکن کولو یو مسؤل ته د سکن کولو دنده ورکوي).

٣. د کلپیدولو الماري کې د بستې د عددي شمېرې له مخې د مهرونو د ریکارډ (L03) فورمې، د رایو ورکولو د راپور د (P01) فورمې او د پایلو د (L02) فورمې ځای پر ځای کوي.

٤. د بستې د عددي شمېرې له مخې د زېرمه تون په برخه کې د رای پاڼو صندوقونو زېرمه کوي.

| |
|---|
| د رایې ورکولو هغه ځایونه چې رای پاڼې یې نه وي شمېرل شوې:<br><br>د رایې ورکولو د هغو ځایونو رای پاڼې به چې شمېرل شوې نه وي د لا زیاتو پلټنو لپاره په یو ځانګړي ځای کې په جلا ډول وساتل شي.<br><br>د هغو ځایونو د رایې ورکولو د راپورد (P01) فورمې چې رای پاڼې یې نه وي شمېرل شوې به په ځانګړو دوسیو (فایلونو) کې په کلپیدونکې الماری کې کېښېښودل شي. |

| |
|---|
| د رایې ورکولو د ځایونو په لست کې، د شمېرنې د مرکز مدیر به د رایې ورکولو د هر ځای د دستې ګڼه او وضعیت ثبتوي چې د رایې ورکولو د ځای رای پاڼې شمېرل شوي او که نه. |

## ٦. د شپې له مخې زېرمه

د کاري ورځې په پای کې به ټول حساس توکي خوندي وساتل شي او ټولې فورمې به د بندېدو وړ په یوه الماري کې ځای پر ځای کړل شي.

که چېرې نوبت (شیفټ) د شمېرنې یا تطبیق په نیمایي کې پای ته ورسیږي، رای پاڼې باید صندوقونو ته واپس کړی شي. د رای پاڼو صندوقونه باید له سره مهر شي، د مهرونو شمېرې به یې د مهرونو د ریکارډ په (L03) فورمه کې د شمېرنې دکارکوونکي د لاسلیک، نېټې او وخت سره یو ځای ثبت او فورمې به د بندېدو وړ په یوه الماري کې کېښودل شي. رای پاڼې به په جلا توګه زیرمه شي څو د شمېرنې سموالی (صحت) باوري شي او د اغیزمنې شمېرنې په بیا پیل کولو کې مرسته وکړي.

راتلونکې ورځ، د هغه ځای د مهر شمېرې به د رای پاڼو د صندوقونو له پرانېستلو څخه مخکې د سموالي لپاره وکتل شي او د رایې ورکولو د راپور په (P01) فورمه کې ثبت شوي مالومات یا د هغې دستې د پایلې (L02) فورمه به وکتل شي.

کتونکي او د کاندیدانو استازي به اجازه ولري چې د توکو امنیت وګوري او که چیرې د رای پاڼو صندوقونه د مهر کولو په حال کې وي د مهر شمېرې ثبت کړي. د شمېرنې مدیر باید د شمېرنې په مرکز کې د شپې له مخې کتونکو او د کاندیدانو استازو ته په مساوي او عادلانه ډول لاس رسی تنظیم کړي.

که چیرې د شمېرنې په مرکز کې کافي امنیت موجود و، کېدای شي چې د رای پاڼو صندوقونه د شمېرنې په مرکز کې تر هغه پاتې شي څو د رای پاڼو ټول صندوقونه دوباره مهر او د مهرونو شمېرې د پایلو د ریکارډ په (L03) فورمه کې ثبت کړل شي.

## ۷. د حساب تصفیه کول او له سره شمېرنې

دا یوه بیا کتنه ده. مهرباني وکړئ د لازیاتو مالوماتو لپاره مناسبو برخو ته مراجعه وکړئ.

**ترلاسه کول**

په لاندې حالاتو کې به د حساسو توکو د حساب تصفیه کولو لپاره د توکو صندوقونه پرانستل شي:

- کله چې د رایې ورکولو د راپور (P01) فورمه ورکه او یا هم په سم ډول نه وي ډکه شوي: د ترلاسه کولو مامورین به د صندوقونو کې د ترلاسه شوو حساسو توکو مطابق بشپړ او نوموړې موضوع به د ترلاسه کولو د (L01 )فورمې د "کتنو" په برخه کې یادښت کړي.
- کله چې د رای پاڼو یو یا زیات صندوقونه ورک شوي وي: د راپور (L04) فورمه باید ډکه کړای شي او د شمېرنې د مرکز د مدیر له خوا به د حساب تصفیه صورت ونیسي.

**تطبیقول**

د رای پاڼو صندوقونه به د حساسو توکو د حساب د تصفیې لپاره پرانستل شي کله چې:

- د ترلاسه شوو او د رای پاڼو د صندوقونو څخه د لاسته راغلو رای پاڼو او ناکارول شوو+ خرابو شوو+ بېکاره شوو رای پاڼو ترمنځ لکه څرنګه چې د رایې ورکولو د راپور د (L01) په فورمه کې راپور ورکړل شوی دی توپیر موجود دی او دا توپیر تر هغه منلې کچې لوړ دي چې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر له خوا ټاکل شوي ده. که چیرې د حساب د تصفیې څخه وروسته هم توپیر په خپل حال پاتې و د ټاکنو ولایتي مامور باید د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د پرېکړې لپاره په کابل کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر ته راپور ورکړي.
- د ټګۍ د هڅو شواهد موجود دي. باید د شمېرنې د مرکز مدیر ته د پېښې په هکله راپور ورکړل شي. که چیرې د هغه\هغې په اند د ټګۍ هڅه ترسره شوې وي، باید رای پاڼې تطبیق نه شي. که چیرې د تصفیه کوونکي له خوا د ټګۍ هڅه ثبت شي په دې صورت کې باید د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د پرېکړې لپاره په کابل کې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء مرکزي دفتر ته راپور ورکړل شي.

**شمېرنه**

د پایلو (L02) فورمې به سکن شي یعنې کمپیوټري عکس به یې واخستل شي او د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء د ډېټا ( مالوماتو) مرکز ته به واستول شي. که چېرې په تطبیقونه یا شمېرنه کې کومه تېروتنه یا غلطې وموندل شي نو د مالوماتو مرکز به د هرې ځانګړې بستې د پایلو د (L02) فورمو او د رایو د راپور ورکولو (P01) فورمو د غور او کتلو غوښتنه وکړي.

د رای پاڼو هغه صندقونه چې شمېرل شوي رای پاڼې په کې دي ، کېدای شي ددې لپاره پرانستل شي چې د هر کاندید د ترلاسه شوو رایو شمېره چې د بنډلونو سره په مل کاغذ کې لیکل شوېده، وکتل شي. که چېرې د کتلو څخه وروسته داسې وبرېښي چې د توپیر کچه د منل شوي کچې څخه زیاته ده نو د موضوع په اړه باید د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر مرکزي دفتر ته خبر ورکړل شي او هغه به ددې پریکړه کوي چې بیا شمېرنه دې وشي که څنګه.

**بیا شمېرنې**

یوازې د انتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر، د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون، د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون د تصدیق وروسته ولایتي انتخاباتي کمېسیون کولای شي د بیا شمېرنې امر ورکړي.

## ۸. د رای پاڼو د اعتبار په اړه د پرېکړې اصول

هغه رای پاڼه چې هېڅ کاندید پکې په نښه شوی نه وي، د خالي قانوني رای پاڼې په توګه به وګڼل شي.

هغه رای پاڼه به د په نښه شوي قانوني رای پاڼې په توګه وګڼل شي، چې د رایه ورکوونکی انتخاب په کې څرګند وي، او

رای پاڼه په یوې نښې سره په نښه کیږي چې له مخې یې رایه ورکوونکی د کاندید په چوکاټ کې نه پیژندل کیږي ( په دې چوکاټ کې د کاندید نوم ، شمېره، عکس، سیمبول او د نښې لپاره خانه وي (بېلګې ۱، ۲، ۳، ٤، ٥، ٦، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۲).

رایه ورکوونکی د یو کاندید لپاره یوه څرګنده نښه کاري، که څه هم:

- په رای پاڼه کې نښه په غرفه کې د موجود قلم پرته د لیکلو په هره بله آله باندې شوې وي (بېلګه نه ده ورکړل شوی).
- رای پاڼه زیانمنه شوې وي، توره شوې یا داغي شوې وي او یا خیرنه شوې وي ، خو د رایه ورکوونکي یو انتخاب په کې څرګند وي ( بېلګه نه ده ورکړ شوي)
- رای پاڼه شلېدلې وي خو د کاندیدانو ټول چوکاټونه زیانمن شوي نه وي. (۱۳ بېلګه)
- په چوکاټ کې د ”X“ نښه کېښل شوي وي او د نورو کاندیدانو چوکاټونو ته دا نښه رسیدلې وي خو د دې نښې مرکزي برخه د یو کاندید په چوکاټ کې وي. (۱٤، ۱٥ بېلګه)

- د "X" نښه د یو کاندید د خاني په څنګ کې کښل شوې وي. (بېلګه ۱٦)

- د "✓" نښې لویه برخه د یو کاندید په چوکاټ کې راغلې وي، خو نه د نښې د پیل لنډه برخه او نه د پای برخه یې بل چوکاټ ته غځېدلې وي. (بیلګې ۱۷، ۱۸، ۱۹)

**یوه رای پاڼه هغه وخت غیرقانوني او ناسمه اعلانېږي، که چیرې:**

- رای پاڼه د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفترد دارالانشاء له خوا په منل شوي بڼې سره نه وي برابره شوې او د رایې ورکولو په ځای کې رسماً نه وي صادره شوې.

- د رایه ورکوونکي انتخاب څرګند او روښان نه وي.

- په رای پاڼه کې هغه کاندید په نښه شوی وي چې:

د کاندیدانو د نومونې د دورې د پای څخه د رایو ورکولو د بندیدو تر وخته پورې په دغه موده کې مړ شوی وي ، او یا د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون د پرېکړې له مخې د ټاکنو څخه ایستل شوی وي.

- رایه ورکوونکي په رای پاڼه باندې څه لیکلي یا رسم کړي وي (بېلګې: ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲٤).

- د "✓" نښې د پیل لنډه برخه په یو چوکاټ کې پیل شوې وي، خو د پای برخه یې بل چوکاټ ته غځېدلې وي ( بېلګه۲٥).

- د "X" نښه کښل شوې وي چې مرکزي برخه یې د دوو چوکاټونو تر منځ راغلې وي ( بېلګه ۲٦).

- رایه ورکوونکي داسې نښې کړي وي چې د یو څخه د زیاتو کاندیدانو څرګندونه کوي (بېلګه ۲۷، ۲۸).

- رایه ورکوونکي داسې نښې کړې وي چې په ترجیحي توګه د یو څخه زیات کاندیدان یې په نښه کړي وي ( بېلګه۲۹ ).

- رای پاڼه داسې شلېدلې وي چې یو یا زیات چوکاټونه یې له منځه تللي وي (بېلګه۳۰).

- داسې نښه کښل شوې وي چې د یو کاندید په اړه انتخاب ته بدلون ورکړی شوی وي، پاک کړی یې وي یا یې چلیپا کښلې وي او بل کاندید یې په نښه کړې وي. ( بېلګې ۳۱، ۳۲)

## *Valid Ballots*

# د اعتبار وړ رای پاڼه / ورق رای قابل اعتبار
























## *Valid Ballots*

# د اعتبار وړ رای پاڼه / ورق رای قابل اعتبار

۹




۱۰




۱۱




۱۲




۱۳




۱۴




۱۵




۱۶



**Valid Ballots**

# د اعتبار وړ رای پاڼه / ورق رای قابل اعتبار

١٧




١٨




١٩



## *Invalid Ballots*

# بي اعتباره راى پانه / ورق راى غير قابل اعتبار

۲۰




۲۱




۲۲




۲۳




۲۴




۲۵




۲۶




۲۷



## *Invalid Ballots*

# بې اعتباره رای پاڼه / ورق رای غیر قابل اعتبار

۲۸




۲۹




۳۰




۳۱




۳۲



**<u>لومړی نمبر مل – هغه فورمې چې د شمېرنې په مرکز کې کارول کېږي</u>**

د رایې ورکولو فورمې

*P01 - د رایې ورکولو د راپور فورمه*
*P02 - د رایې ورکولو کاري پاڼه*
*P03 - د رایه ورکوونکو لېست*

د شمېرنې فورمې

*L01 - د وصول یا ترلاسه کولو فورمه*
*L02 - د پایلو فورمه*
*L03 - د مهرونو ریکارډ*
*L04 - د راپور ورکولو فورمه*


د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګي او ولايتي شورا ټاکني
انتخابات ولسی جرګه و شورا های ولایتی سال ۱۳۸٤
د رايي اچونې د ځای د راپور P01 فورمه
فورمه P01 - ګزارش محل رای ګیری
**Polling Return – Form P01**

| |
|---|
| ۱. د رايي اچونی د ځای کوډ<br>کود محل رای ګیری<br>1.Polling Station Code<br>☐☐ / ☐☐ / ☐☐☐ / ☐☐ |
| ۲/ .2<br>نارينه/ذکور/ Male ☐<br>ښځينه/اناث / Female ☐<br>کوچي/کوچ/کوچی / Kuchi ☐ |
| ۳. د ولايت نوم<br>نام ولايت<br>3. Province Name<br>____________ |
| ٤. د ولسوالی نوم<br>نام ولسوالی<br>4. District Name<br>____________ |


| | ولايتي شورا / شورای ولايتی<br>Provincial Council | ولسي جرګه / ولسی جرګه<br>*Wolesi Jirga* |
|---|---|---|
| ۵. د ترلاسه شویو رای پاڼو شمیر / تعداد اوراق رایدهی دریافت شده<br>5. Number of ballots received | | |
| ٦. د ناستفاده شویو رای پاڼو شمیر / تعداد اوراق رایدهی استفاده ناشده<br>6. Number of unused ballots | | |
| ۷. د ضایع شویو پاڼو شمیر / تعداد اوراق رایدهی ضایع شده<br>7. Number of spoiled ballots | | |
| ۸. د ایسته شویو رای پاڼو شمیر / تعداد اوراق رای دهی دورانداخته شده<br>8. Number of discarded ballots | | |

۹. د رایه اچوونکو د لست د ثبت شویو کارتونو شمیر / تعداد کارت های درج شده ازلست رای دهندگان
9.Number of entries on the List of Voters ☐

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰. د رای پاڼوو صندوق د **څنګ** او **سر** د مهر شمیری<br>شماره های مهر قسمت **فوقانی** و **جانبی** صندوق رایدهی<br>10. Ballot Box **side** and **top** Seal Numbers | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |



| | |
|---|---|
| ۱۱. د توکو د صندوق د مهر شمیری<br>شماره های مهرصندوق لوازم<br>11. Materials Box Seal Numbers | |
| | |



۱۲. کتنې/ ملاحظات / 12. Remarks

۱۳. د رايي اچونې د ځای د رئیس نوم او لاسلیک / اسم وامضای رئیس محل رای ګیری
13. Name and signature of Polling Station Chairperson
____________________________

۱٤. د رايي اچونې د مرکز د مدير نوم او لاسليک / اسم وامضای مديرمرکز رای ګیری
14. Name and signature of Polling Center Manager
____________________________

**يوازې د شميرنې په مرکز کې د کارولو لپاره / تنها درمرکز شمارش قابل استفاده ميباشد** / Only for use at the Count Center

| | ولايتي شورا | ولسي جرګه |
|---|---|---|
| **۱۵. د رای پاڼو په صندوقونو کې د پيدا شويو رای پاڼو شمير**<br>**تعداد اوراق رای دهی دریافت شده درصندوق های رای دهی**<br>15. Number of ballots found in the Ballot Boxes | | |
| **۱٦. تطبيق / تطبيق** / 16. Reconciliation | | |

**۱۷. کتنې/ ملاحظات**/ 17.Remarks

**۱۸. د شميرنې د مرکز کارکوونکي نوم او لاسليک / اسم وامضای کارمند مرکز شمارش**
18. Name and signature of Count Center Official
____________________________



Form-P01

د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرگي او ولايتي شورا ټاکني
انتخابات ولسی جرگه و شورا های ولایتی سال ۱۳۸٤
د رايي اچوني د ځای د کاري پاڼي P02 فورمه
فورمه P02 – ورق اجراات رای گیری
**Polling Worksheet – Form P02**

۱. د رايي اچوني د ځای کوډ
کود محل رای گیری
1. Polling Station Code

☐☐/☐☐/☐☐☐/☐☐

2. /۲
نارينه/مذکر / Male ☐
ښځينه/مونث / Female ☐
کوچي/کوچی/ Kuchi ☐

۳. د ولايت نوم
نام ولایت
3. Province Name

________________

۴. د ولسوالی نوم
نام ولسوالی
4. District Name

________________

ولايتي شورا / شورای ولایتی
Provincial Council



ولسي جرگه / ولسی جرگه
*Wolesi Jirga*

| | | |
|---|---|---|
| ۵. د ترلاسه شويو رای پاڼو شمير / تعداد اوراق رایدهی دریافت شده<br>5. Number of ballots received | | |
| ٦. د ناستفاده شويو رای پاڼو شمير / تعداد اوراق رایدهی استفاده ناشده<br>6. Number of unused ballots | | |
| ۷. ضايع شويو رای پاڼو شمير / تعداد اوراق رایدهی ضایع شده<br>7. Number of spoiled ballots | | |
| ۸. د ايسته شويو رای پاڼو شمير / تعداد اوراق رای دهی دورانداخته شده<br>8. Number of discarded ballots | | |


۹. د رايه اچوونکو د لست خخه د ثبت شويو کارتونو شمير / تعداد کارت های درج شده ازلست رای
9.Number of entries on the List of Voters ☐

۱۰. د رای پاڼو صندوق د **څنګ** او **سر** د مهر شميري
شماره های مهر قسمت **فوقانی** و **جانبی** صندوق رایدهی
10. Ballot Box **side** and **top** Seal Numbers

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ۱صندوق<br>۱صندوق<br>Box1 |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | ۲صندوق<br>۲صندوق<br>Box2 |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | ۳صندوق<br>۳صندوق<br>Box3 |
| | | | | |
| | | | | |

۱۱. د توکو د صندوق د مهر شميري
شماره های مهرصندوق لوازم
11. Materials Box Seal Numbers



| | |
|---|---|
| | |
| | |

۱۲. کتنې/ ملاحظات / 12. Remarks

۱۳. د رايي اچوني د ځای د رئيس نوم او لاسليک / اسم وامضای رئیس محل رای گیری
13. Name and signature of Polling Station Chairperson

________________________________________

Form-P02

د ١٣٨٤ کال د ولسي جرگې او ولايتي شورا ټاکنې
د رايه اچوونکو لست –P0 3 فورمه
انتخابات ولسى جرگه وشورا هاى ولايتى سال ١٣٨٤
فورمهٔ P03 - لست راى دهندگان

***Wolesi Jirga* and Provincial Council Elections 2005**
**List of Voters – Form P03**

---

**١. د رايي اچوني د ځاى كوډ**
**كود محل راى گيرى**
1. Polling Station Code

☐☐ / ☐☐ / ☐☐☐ / ☐☐

**2. /٢**
☐ Male / نارينه/مذكر
☐ Female / ښځينه/مونث
☐ Kuchi / كوچي/كوچى

**٣. د ولايت نوم**
**نام ولايت**
3. Province Name
________________

**٤. د ولسوالى نوم**
**نام ولسوالى**
4. District Name
________________

| ګڼه شماره No. | د نوم لیکنې د کارټ شمیره<br>شماره کارت ثبت نام راى دهندگان<br>Voter Registration Card Number | ګڼه شماره No. | د نوم لیکنې د کارټ شمیره<br>شماره کارت ثبت نام راى دهندگان<br>Voter Registration Card Number |
|---|---|---|---|
| ١ | | ٢٦ | |
| ٢ | | ٢٧ | |
| ٣ | | ٢٨ | |
| ٤ | | ٢٩ | |
| ٥ | | ٣٠ | |
| ٦ | | ٣١ | |
| ٧ | | ٣٢ | |
| ٨ | | ٣٣ | |
| ٩ | | ٣٤ | |
| ١٠ | | ٣٥ | |
| ١١ | | ٣٦ | |
| ١٢ | | ٣٧ | |
| ١٣ | | ٣٨ | |
| ١٤ | | ٣٩ | |
| ١٥ | | ٤٠ | |
| ١٦ | | ٤١ | |
| ١٧ | | ٤٢ | |
| ١٨ | | ٤٣ | |
| ١٩ | | ٤٤ | |
| ٢٠ | | ٤٥ | |
| ٢١ | | ٤٦ | |
| ٢٢ | | ٤٧ | |
| ٢٣ | | ٤٨ | |
| ٢٤ | | ٤٩ | |
| ٢٥ | | ٥٠ | |

**د باطلو ثبت شويو كارتونو شمير**
**تعداد كارت هاى درج شده باطل**
Number of cancelled entries ☐

**Form-P03**

**د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولايتي شورا ګانو ټاکنې**
**انتخابات ولسی جرگه و شورا های ولایتی سال ۱۳۸٤**

**L01- د وصول فورمه**

**L01- فورمهٔ وصول**

**L01- Intake Form**

د رايي اچوني د مرکز کود
کود مرکز رای دهی
**Polling Centre Code**

| د دستی د کوډ وروستی څلور شمېرې چار شماره اخیر کود دسته Batch code last four digits | د شمیرنې دځای دکارکوونکي نوم او لاسلیک/ اسم و امضای کارمند محل شمارش Count Centre Official Name and initials | د راپور ورکولو د مسؤول مامور نوم او لاسلیک/ اسم وامضای مامور گزارش دهی Return Officer Name and Initials | کتنې ملاحظات Remarks | د توکو صندوق صندوق مواد Materials Box | | د ولايتي شورا د رای پانو صندوق/ صندوق رای دهی شورای ولایتی Ballot Box Provincial Council | | د ولسي جرګې د رای پانو صندوق صندوق رای دهی ولسی جرگه Ballot Box *Wolesi Jirga* | | ECC01 شمېر/ تعداد فورمه ECC01/ (#) ECC01 | P 01 | د رايي اچوني د ځای کوډ کود محل رای گیری Polling Station Code |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | مهرونه مهرها Seals | # | مهرونه مهرها Seals | # | مهرونه مهرها Seals | # | | ✓ | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |

د پایلو (L0 2) فورمه
فورمه L02 - نتایج
**L02 – Result Form**

د رائي اچوني د ځاي کوډ
کود محل رایگیری
**Polling Station**

| ١ | | ٥ | |
|---|---|---|---|
| ٢ | | ٦ | |
| ٣ | | ٧ | |
| ٤ | | ٨ | |

د دستي کوډ / کود دسته:
Batch Code:

د ولایت نوم / نام ولایت:
Province Name: ______________________

| رايي<br>آراء<br>Votes | کاندیدان<br>کاندیدان<br>Candidates | رايي<br>آراء<br>Votes | کاندیدان<br>کاندیدان<br>Candidates | رايي<br>آراء<br>Votes | کاندیدان<br>کاندیدان<br>Candidates |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | اسم کاندیدان و شماره را واضح بنویسید/ د کاندیدانو نوم او شمېره واضح ولیکی<br>**( Pre Printed Candidate Name & Number)** |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | فرعی مجموعه / مجموعه فرعی<br>Subtotal | | فرعی مجموعه / مجموعه فرعی<br>Subtotal | | فرعی مجموعه / مجموعه فرعی<br>Subtotal |

**په نښه شوي قانوني رای پاڼی / مجموع آرای قانونی**
**Valid Marked Ballots**

**سپینی قانوني رای پاڼی / مجموع آرای سفید**
**Valid Blank Ballots**

**غیر قانوني رای پاڼی / مجموع آرای غیر قانونی**
**Invalid Ballots**

**مجموعه / مجموع**
**Total**

**د تیم د سرپرست نوم او د نیټي او وخت سره لاسلیک / اسم و امضای سوپر وایزر تیم با تاریخ و زمان آن**
**Team Supervisor Name and Signature with Date and Time**
______________________

**د شمېرني د مدیر نوم او لاسلیک او ورسره نېټه او وخت / اسم و امضای سرپرست تیم با تاریخ و زمان آن**
**Count Manager Name and Signature with Date and Time**
______________________

**د څانګی شمېره / شماره بخش / Unit Number**

په افغانستان کي د ۱۳۸٤کال د ولسي جرګي او ولايتي شورا ګانو ټاکني
د مهرونو دثبت (L03)
انتخابات ولسی جرگه وشورا های ولایتی سال ۱۳۸٤ افغانستان
L03- ثبت شماره مهر ها

**Wolesi Jirga and Provincial Council Elections**
**Afghanistan 2005**
**L03- Record of Seals**

**ولایت:**
**: Province** ____________________________

د دستي کوډ / کود دسته:
Batch Code: [ ][ ] / [ ] / [ ][ ][ ][ ]

| د سر مهر<br>مهر پنجم<br>**Top Seal** | څلورم مهر<br>مهر چارم<br>**Seal 4** | دريم مهر<br>مهر سوم<br>**Seal 3** | دويم مهر<br>مهر دوم<br>**Seal2** | لومړی مهر<br>مهر اول<br>**Seal 1** | د رای پانو د صندوق شميره<br>شماره صندوق رای دهی<br>**Ballot Boxes Number** |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۱ |
| | | | | | ۲ |
| | | | | | ۳ |
| | | | | | ٤ |
| | | | | | ٥ |
| | | | | | ٦ |
| | | | | | ۷ |
| | | | | | ۸ |
| | | | | | ۹ |
| | | | | | ۱۰ |
| | | | | | ۱۱ |
| | | | | | ۱۲ |
| | | | | | ۱۳ |
| | | | | | ۱٤ |
| | | | | | ۱٥ |
| | | | | | ۱٦ |
| | | | | | ۱۷ |
| | | | | | ۱۸ |
| | | | | | ۱۹ |
| | | | | | ۲۰ |

| د رای پانو د صندوقونو مجموعي شمېر/<br>تعداد مجموعی صندوق رای دهی<br>**Total Number of ballot boxe** | |
|---|---|

اسم و امضای کارمند شمارش با تاریخ و زمان آن
د شمېرني د کارکوونکي نوم او لاسليک د نېټي او وخت سره
______________________________ Count Official Name and Signature with Date and Time

**د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګي او ولايتي شوراګانو ټاکني**
**انتخابات ولسی جرگه و شورا های ولایتی سال ۱۳۸٤**
**L04 - د شميرني د ځای راپور فورمه**
**L04– فورمه گزارش محل شمارش**
**L04 – Report Form**

د شميرني د مرکز کوډ
کود مرکز شمارش
Count Centre Code:

د ولايت نوم
نام ولایت
Province Name:

د رايي اچوني د ځای يا د دستي کوډ
کود محل رای گیری یا کود بسته
Polling Station code or batch code:

د راپور لپاره د دليل توضيح
توضیح دلایل برای گزارش
Description of the reason for the report:

اخيستل شوی ګام
اقدامات اتخاذشده
Action Taken:

د تعقيبي اقدام اړتيا
اقداماتی که به پیگیری ضرورت دارد
Follow up action required:

د شميرني د هغه مامور نوم او دنده چي راپور جوړوي
اسم ووظیفه کارمند شمارش که گزارش را آغازمینمایند
Name and Function of the Count Official initiating the report:

د شميرني د ځای مامور لاسليک، وخت او نېټه
امضای مامورمحل شمارش همراه با تاریخ وزمان
Signature of the Count Official with date and time:

د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء د بل هر اړوند کارکوونکو نوم، دنده او لاسليک
اسم، وظیفه وامضای یکی ازمامورین مربوطه دارالانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Name, function and signature of any other relevant JEMBS Official: